خلفاءِ راشدین او احناف

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ پشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

مکتبہ محمدیہ

بیرون گنج گیٹ منگل مارکیٹ پشاور

Mob: 0301-8828402

خلفاء راشدين - رضي الله عنهم

او

احناف

تالیف

ابو محمد امين الله البشاوری حفظه الله

ناشر

مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ منگل مارکيټ پيښور

جمله حقوق محفوظ دی

دکتاب نوم —— خلفاء راشدینؓ او احناف

مؤلف —— شیخ ابو محمد امین الله بشاوری

ترتیب —— ابو سلمان حضرت محمد غفر له ـ

سنه —— ١٠/ رمضان المبارك : ١٤٢٦ هـ

تعداد —— زر نسخے

تصحیح —— ابو سلمان حضرت محمد غفر له

ناشر —— مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پیښور

و جامعه تعلیم القرآن والسنه

منور شاه کالونی ګنج پیښور

مکتبه محمدیه

بیرون ګنج ګیټ منګل مارکیټ پیښور

سریزه

محترمو لوستونکو !

دا رسالـه دهغـه مقلدینو په جواب کښې لیکلې کیږی چه هـغوئ مختلفې رسالې، پملټونه او پوسترې خوروی او په عوام الناس کښې دا تاثر قائموی چه ګنې اهل حدیث دخلفاء راشدینو رضـی اللـه عـنهـم خصـوصـا دعمر فـاروق رضی اللـه عنـه مـخـالـفـت کوی ۔ او په خپلو خطبو، تقریرونو او وعظونو کښې پـه حـجـره او جومات کښې دا ډنډوره کوی ۔ بیا مقلدین دخپل دے مـکـر او فـریـب سرته رسولو دپاره د خلفاء راشدینوؓ فضائل آورول شروع کړی اود قرآن او حدیث صحیح متبعینو باندے بهتانونه او تورونه لګول شروع کړی ۔

اودا وائـی چـه که دا هل حدیثو مسائل حق وے او ضعیف اومـنسـوخ نـه وے، نـو دوئ بـه ولـے دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم مخالفت کولے ؟

بیا وائی :

آیا خلفاء راشدینو رضی الله عنهم دا احادیث نه پیژندل ؟

آیـا دا احادیث خلفاء راشدینو رضی الله عنهم ته معلوم نه

وو ؟

آیا خلفاء رشدینو رضی الله عنهم ددے احادیثو خلاف کولو ؟

بعضے عوام الناس هم ددوئ په دهوکه کښے راشی اود حق اوهدایت طلب کولو نه بغیر ددے نه محروم شی ۔ لیکن بعضے نور دهم دوئ په خبرو باندے ددے رشد اوهدایت دعوت نه خبر شی او دیته لبیك اووائی ۔

اصل خبره داده چه حنفی مقلدین نه دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم سره څه کار شته اونه ددوئ دتابعدارئ غم وړی دی، بلکه دوئ دخپل خود ساخته، ضعیف او خطاء مسائلو ثابتولو دپاره دیو مجتهد قول ته یے ځایه اوبے محله ترجیح ورکوی، اوددے ناشائسته عمل دپاره دخلفاء راشدینو اوعام صحابه کرامو رضی الله عنهم مبارك نومونه استعمالوی ۔

چاچه فقه حنفی لوستلے وی هغه به په دے حقیقت باندے خبر وی چه دوئ صحابی خطاء کوی خو خپل مذهب پورے باسی، بلکه صحیح حدیث ددے دپاره تاؤ راتاؤ کړی چه فقهی مذهب خراب نشی ۔ اودا غلو مقلدین حضراتو دشیعه ګانو نه زده کړے ده، هغوئ هم دعلی رضی الله عنه په محبت کښے دومره غلو اوزیاتے اوکړو چه دالوهیت مرتبے ته ئے

اورسولو ـ مقلدینو هم دامام ابو حنیفةؒ په محبت کښې دومره غلو اوزیاتے اوکړو چه هغه ئے دنبوت څه چه دالوهیت مرتبې ته اورسولو ـ

الغرض : که د دوئ دا بهتانونه او تورونه، تلبیسات او غلط پروپیګنډې نه وے نو مونږ به هم دا ترِخ حقیقت نه ښکاره کولے ـ

لیکن مونږ هم دا حق لرو چه ددوئ ددے غلطے ډنډورے الزامی جواب ورکړو، اوددوئ اصل حقیقت دعوام الناس مخے ته راښکاره کړو ـ فقط

حرره

ابو محمد امین الله البشاوری

ذی القعده : ١٤٢٥/٢٩ هـ

جامعه تعلیم القرآن والسنه

بیرون ګنج ګیټ

منور شاه کالونی پیښور

* * * * * *

بسم الله الرحمن الرحيم

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادی له ، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لاشريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.

اما بعد:

دا رساله د هغه حنفی مقلدينو په رد کښې ليکلے کيږی چه هغوئ دا وائی چه اهل الحديث والسنه د خلفاء راشدينو رضی الله عنهم مخالفت کوی.

حال دا چه مونږ وايو چه زمونږ فتاوے هيڅکله د خلفاء راشدينو رضی الله عنهم خلاف نه دی، والحمد لله.

بلکه مونږ وايو چه د فقه حنفی اکثر مسائل دخلفاء راشدينو - رضی الله تعالیٰ عنهم - خلاف دی، او احاديث نبويه صلی الله علیه وسلم نه خو خامخا خلاف دی. فقه حنفی چه د احاديثو نه خلاف ده نو په دے باره کښې خو ډير کتابونه ليکلے شوی دی، ليکن مخالفت د حنفی فقے د خلفاء راشدينو - رضی الله تعالیٰ عنهم - نه په دے باره کښې څه کتاب په نظر رانغے. دے

وجے نه زه د الله په فضل سره دنمونے په طور څو مثالونه ذکر کووم، دے دپاره چه ګران لوستونکی خپله اندازه اوکړی چه دخلفاء راشدينو - رضی الله تعالیٰ عنهم - مخالفت څوك کوی ؟ احناف که اهل حديث ؟

دا فيصله به په لوستونکو باندے پريدو !

اوس مثالونه شروع کوو :

* * * * * *

خلفاء راشدینو رض سره داحنافو د اختلاف مثالونه :

١ - اول مثال :

خلیفه راشد عمر فاروق - رضی الله تعالیٰ عنه - ابن عمر او تمام صحابه کرام رضی الله عنهم ددے خبرے قائل دی چه په ایمان کښے زیاتے کمے دواړه راځی، لکه په روایت کښے دی :

عن ابی ذر قال : کان عمر یأخذ بید الرجل والرجلین من اصحابه، فیقول : قم بنا نزداد ایمانا، فیذکرون الله عز وجل.

(کنز العمال : ١/٢٠٧) حیاة الصحابة (٣/١٤).

ددے خلاف د احنافو معتبر کتابونو : شرح فقه اکبر ص (١٠٥) ، عمدة القاری، تنظیم الاشتات (١/٢٨) عینی (١/١٠٧) کښے دی چه په ایمان کښے نه زیادت راځی اونه کمے .اودا دقرآن نه هم خلاف عقیده ده ځکه قرآن کښے دی ﴿ زادتهم ایمانا ﴾ .

٢ - دویم **مثال** : خلیفه راشد عمر فاروق ، ابن عمر اوابن مسعود رضی الله تعالی عنهم نه نقل دی چه مس المرأه (زنانه له لاس وروړلو) سره اودس ماتیږی.

لکه دارقطنی (۱/۱٤٤) مشکوة (۱/٤۱) کښې دی.

ددې په خلاف احناف وائی چه زنانه مسه کولو سره اودس نه ماتيږی.

لکه فتاوی عالمگيری (۱/۱۳) شرح وقايه (۱/۷۷) خلاصة الفتاوی (۱/۱٥) کښې دی.

۳ - دريم **مثال**: خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه دجنب دپاره تيمم کول جائز نه دی. (بخاری: ۱/٤۷، ٤۸)

ددې خلاف احناف وائی چه جنب دپاره تيمم کول جائز دی. (کنز: ۱/٦) هدايه (۱/٤۹) در المختار (۱/۱۰۹).

٤ - څلورم **مثال**: خليفه راشد عمر فاروق رضی الله تعالی عنه، ابن عمر او ابو هريره - رضی الله عنهما - فرمائی چه مس الذکر (اندام مخصوصه له لاس وروړلو) سره اودس ماتيږی.

(طحاوی: ۱/ ٤۳) تنظيم الاشتات (۱/۱۳۲) عينی، السنن الکبری للبيهقی (۱/۹۱) عبد الرزاق (۱/۱۱٤).

ددې برعکس احناف وائی چه شرمگاه له لاس وروړلو سره اودس نه ماتيږی.

(الهداية، رد مختار (۱/۹۹) کنز (۱/٦).

٥ - پنځم **مثال**: خليفه راشد عمر بن خطاب رضی الله

عنه فرمائی : د درندګانو او لیوانو جوټه پاکه ده.
(مشکوة : ۱/۵۱) موطا (۱/۱٤) عبد الرزاق (۱/۷۷) فقه عمر بن الخطاب ص : ۵۹۸).

ددے برعکس احناف وائی : ددرندګانو اولیوانو جوټه پلیته ده. (هدایه : ۱/٤۵) کنز (۱/۹) شرح وقایه (۱/۹۲)

٦ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : د سمندر ټول حیوانات جائز اوحلال دی. (بخاری : ۲/۸۲۵)

ددے په خلاف احناف وائی : د ماهی نه سیوا د سمندر ټول حیوانات حرام دی.
(هدایه : ٤/٤٤۲) تنظیم الاشتات (۱/۱۸۰).

۷ - خلیفه راشد عمر فاروق - رضی الله عنه - فرمائی : دماکول اللحم حیواناتو بول پاك دی (یعنے دکومو حیواناتو غوښه چه خوړلے شی دهغوئ متیازے پاکے دی).
(مستدرك : ۱/۱۵۹).

لیکن ددے خلاف احناف وائی چه ددے حیواناتو متیازے نجسے دی. (هدایه : ۱/ شرح وقایه (۱/۱۳۹)

۸ - خلیفه راشد علی رضی الله عنه به په څپلو چپلو مسح کوله. طحاوی (۱/۷۰) بیهقی (۱/۲۸۷).
ددے برعکس احناف دیته جائز نه وائی. عینی (۳/۲٤).

۹ - نهم مثال: خلیفه راشد عمر رضی الله عنه به په تیمم کښې صرف په مخ او ورغوو باندې مسح کوله.

لکه بخاری (۱/٤٧) اور المحلیٰ (۲/١٤٨) کښې دعمار بن یاسر رضی الله عنه په حدیث کښې راغلی دی.

او احناف دا طریقه د تیمم نه منی.

هدایه (۱/٥٠)۔ شرح وقایه (۱/٩٧).

۱۰ - لسم مثال: خلیفه راشد عمربن خطاب رضی الله عنه به دجنازې وړلو نه پس اودس لازم ګڼړلو او کله چه به دجنازې وړلو نه واپس شو نو ضرور به ئې اودس کولو تردې چه دمسجد په ټاپ کښې به ئې اودس کولو.

المحلیٰ (۱/٢٥٠).

ددې په خلاف په احنافو کښې بعضې دا هډو منی نه او ځینې ورته مستحب وائی. لازم ئې نه ګڼړی.

مرقات (۲/۹۳) اور نفع المفتی والسائل ص (۲۰٥).

۱۱ - یولسم مثال: خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل چه تهولې اوبه پاکې دی لږې وی که ډیرې ترڅو پورې چه ددې اوصاف ثلاثه متغیر شوې نه وی.

اذا لم یخرجه النجاسات عن اوصافه الثلاثة سواء کان قلیلا او کثیراً - (کنز العمال رقم (۲٧٤٧٨) المحلی (١/١٤٦) فقه عمر رضی الله عنه ص (٥٩٥).

لیکن احناف وائی چه کله اوبه لس په لسو کښې وی او په دې کښې نجاست پریوځی نو نه پلیتیږی، اوکه لس په لسو کښې حوض نه وی نو پلیتیږی اګرکه په دې کښې یو څاڅکے متیازې پریوځی. (هدایه: ۱/۳۵) شرح وقایه (۱/۸۶).

۱۲ - دولسم مثال: خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په پټکی باندې مسح کول جائز ګنړل اودا به ئې فرمائیل:

من لم يطهره المسح على العمامة فلا طهره الله.

(المغنى: ۱/۳۰۱) والمحلى (۲/۶۰) فقه عمر ص: (۵۹۵).

ترجمه: چالره چه په پټکی باندې مسح کول پاك نه کړی نو الله تعالی دې هغه پاك نه کړی.

او فقه حنفی کښې احناف وائی چه په پټکی باندې مسح کول جائز نه دی، نو په دوئ باندې د عمر فاروق رضی الله عنه بنیرې لګیدلې دی. مرقاة (۲/۱۶).

۱۳ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه ارشاد ګرامی دې چه دزنانو په لوپټه باندې هم مسح کول جائز دی او فرمائیل به ئې چه چالره په لوپټه باندې مسح کول پاك نه کړی نو الله تعالی دې هغه لره پاك نه کړی.

كنز العمال رقم (۲۶۹۹۹) وفقه عمر ص (۶۷۶).

او احناف دا نه منی.

هدايه (۱/۶۱) شرح وقايه (۱/۱۱۳).

۱٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په جورابو باندے مسح کوله لکه مسند احمد (۱/۱٤) کښې روایت دے.

ددے په خلاف احناف وائی : په اوداسه کښې په جورابو باندے مسح کول جائز نه دی.

هدایه (۱/۶۱)، شرح وقایه (۱/۱۱۱) کنز (۱/۱۲)

۱۵ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز په موزو باندے د مسح کولو موده محدوده نه ده، بلکه مسلسل ډیرو ورځو پورے په هغے مسح کول دهغوئ په نیز جائز وو.

طحاوی (۱/۸۰) مجموع (۱/۵۲۱) کنز العمال (۲۷۵۹۷).

او احناف درے ورځو نه زیات په موزو باندے مسح کولو ته جائز نه وائی.

هدایه (۱/۵۹) او رد المحتار (۱/۱۸۰).

۱۶ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او دباقی ټول صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین مذهب داوو چه تارك الصلاه (مونځ پریخودونکے) کافر دے.

لکه په المحلی (۲/۲٤۲) کښې دی:

لا حظ فی الاسلام لمن ترك الصلوة.

یعنے: اسلام کښې دهغه چا حصه نشته چاچه مونځ پریخودلو.

دغه شان ترمذی (۲/۹۰)، مشکوة (۱/۵۷) کښې هم دی.

لیکن احناف ددے خلاف کوی او وائی چه مونځ پریخودونکے کافر نه دے.

مرقات (٢/١١٩) رد المحتار (١/٢٣٥).

١٧ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په یوه موقعه باندے دجنابت په حالت کښے په هیره باندے دجماعت مونځ اوکړو او بیا ورته یاد شو نو دوئ خپله خو مونځ راوګرځولو لیکن مقتدیانو ته ئے خبر ورنه کړو. او همدا کار خلیفه راشد عثمان بن عفان رضی الله عنه هم کړے وو.

(مسند عبد الرزاق (٢/١٣٤٧) معرفة السنن (١/٤٢١) ابن ابی شیبه (١/٦٠) او نصب الرایه).

ددے خلاف احناف وائی چه په مذکوره صورت کښے به امام او مقتدیان ټول مونځ راګرزوی اودا اعاده ددوئ په نیز فرض ده.

نو ګوره: احنافو دخلفاء راشدینو صریح خلاف ورزی اوکړه! (هدایه او الدر المختار (١/٣٩٨) باب الامامة).

١٨ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق، عمر بن خطاب او بقیه نورو ټولو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم به د سَحَر مونځ وختی کولو.

لکه عبد الرزاق (١/٥٧٠) ابن ابی شیبه (١/٤٩) موطا (١/٦) کښے دی.

ددے خلاف احناف وائی چه دصبا مونځ اسفار سره (ناوخته) کول بهتر دی.

کنز (۱۷/۱) هدایه (۸۲/۱) در مختار (۲٦۹/۱).

نو دوئ د ټولو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم خلاف اوکړو.

۱۹ - خلیفه راشد عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه فرمائی چه دمازیګر دمانځه وخت هغه وخت شروع کیږی کله چه د هر څیز سورے یو چند شی. لکه فرمائی:

(الی ان یصیر ظل کل شئ مثله) موطا (٦/۱) عبد الرزاق (٥٥۱/۱).

ددے خلاف احناف وائی چه دمازیګر دمانځه وخت هله شروع کیږی کله چه د هر شئ سورے دوچند شی.

هدایه (۸۱/۱) شرح وقایه (۱٤۷/۱) کنز (۱۷/۱) درمختار (۲٤۰/۱) وغیره.

نو دوئ دصریح روایت خلاف ورزی اوکړه.

۲۰ - خلیفه راشد عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه ارشاد ګرامی دے چه د ماسخوتن وخت د شفق احمر یعنی سُرخئ نه پس شروع کیږی اود ماښام وخت ختمیږی.

موطا: ٦/۱، عبد الرزاق ۱/٥۳٦ المجموع ۳/٤٤ المشکوة ۱/٥۷

ددے خلاف احناف وائی چه د شفق ابیض یعنی سفیدئ نه پس شروع کیږی. رد المحتار (۲٤۱/۱) هدایه.

۲۱ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دسفر او باران په موقع باندے جمع بین الصلاتین جمع تقدیم او جمع تاخیر دواړه کوله.

مصنف عبد الرزاق ۲/۵٥٦ المجموع ٤/۲٥٤ السنن للبیهقی ۳/۱۹٦.

ددے خلاف احناف په فقه حنفی کښے دیته ناجائز وائی

شرح وقایه ۱/۵۰ الدر المختار ۱/۲۵۵ الکوکب الدری ۱/۱۰٦.

نودوئ دخلفاء راشدینو ؓ هم خلاف اوکړو اودرسول الله ﷺ خلاف ئے هم اوکړو.

۲۲ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل: چا چه قصدا مونځ پریخودلو نو دهغے قضائی نشته.

الا وان الصلاة لها وقت شرطه الله لا تصح الا به.

المحلی (۲/۲۳۹) فقه عمر رضی الله عنه (٤۲٤).

ددے خلاف احناف وائی: قضاء لازم ده.

مرقات (۲/۱۱۹) تنظیم الاشتات (۱/۳۹).

۲۳ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په یو روایت کښے فرمائی چه صلاه الوسطی دصباء مونځ دے.

طرح التثریب (۲/۱۷۳) المجموع (۳/٦۳).

ددے خلاف احناف وائی چه داد مازیګر مونځ دے.

مرقات (۲/۱٤۷) (۳/٤۹).

۲٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دمازیګر

مانځه نه پس دوه رکعته نفل جائز ګڼړل، صرف دخلقو داشتباه دپاره به ئے ترې منع کوله چه خلق چرته په غلط وخت کښے مونځ اونه کړی.

محلی (٣/٢٧٤) فتاویٰ الدین الخالص (٣/١٨٢) فقه عمر رضی الله عنه ص (٤٢٦).

ددے خلاف احناف وائی : مازیګر نه پس دوه رکعته مطلقا جائز نه دی.

هدایه (١/٨٥) شرح وقایه (١/١٥٠) مرقات (٣/٤٦).

٢٥ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په مانځه کښے ستره لګول ضروری ګڼړل.

ابن ابی شیبه (١/٤٣) کنز العمال رقم (٢٢٥٦٥) (٢٢٥٦٠) عبد الرزاق (٢/٢٦).

ددے خلاف احناف وائی : ستره ضروری نه ده بلکه مستحب ده.

شرح وقایه (١/١١٥) هدایه (١/١٣٨) درمختار (١/٤٢٨).

٢٦ –خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به چه کله د سَحر جَمعه اودریده نو خلق به ئے دسنت کولو نه منع کول، بلکه خلق به ئے په دے سنت کولو باندے وهل.

(لکه عبد الرزاق (٢/٤٣٦) المحلی (٣/١١)، مختصر الخلافیات للبیهقی (٢/١٤٩) کښے دی :

و كان عمر رضى الله عنه يضرب الناس على الصلاة بعد الاقامة.

يعنے : كله به چه دمانځه دپاره اقامت اوشو او بعضے خلقو به سنت كول نو عمر رضى الله عنه به هغه وهل.

ددے خلاف احناف وائى : چه كله يو ركعت يا صرف التحيات دامام سره لاسدے كولے شى نو د سَحر جماعت اودريدو باوجود سنت كولے شى.

شرح وقايه (۲۱۲/۱) فتح القدير (٤١٤/۱) كنز (۳۷/۱).

بلكه داموجوده احناف خو دامام سره په صف كښے هم ولاړ وى او هغه فرض مونځ كوى اودا غريبانان سنت تپوى دوئ په دين كښے هيڅ فقاهت نه لرى.

نو دوئ درسول الله ﷺ هم مخالفت اوكړو، اود خلفاء راشدينو مخالفت هم.

ددے سنتِ عمرى دوجے نه كله چه احناف دسَحر جماعت اودريدو باوجود سنت كوى نو دوئ لره وهل پكار دى .

(اقتداءً بالخليفة الراشد عمر رضى الله عنه).

۲۷ - خليفه راشد عمر فاروق رضى الله عنه نه نقل دى چه دوئ داقامت او جماعت ترمينځه ډير وخته پورے خبرے اوكړے.

ابن ابى شيبه (٦٢/۱) وفقه عمر رضى الله عنه ص (٤٣٠).

ددے خلاف احناف وائى : د قد قامت الصلاة وئيلو په وخت

امام له الله اکبر وئیل پکار دی.

مرقات ۲/٤ ١٥ هدايه، شرح وقايه ۱/ ۱۵۵، عمدة الرعايه ۱/ ۱۵۵

۲۸ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به د مانځه شروع کولو په وخت خپل دواړه لاسونه اوګو پورے اوچتول.

لکه عبد الرزاق (۲/ ۷۱) ابن ابی شیبه اور المجموع (۳/ ۲۹۵) کښې دی:

کان عمر – رضی الله عنه – یرفع یدیه حذو منکبیه.

ددے خلاف احناف وائی: لاسونه به غوږونو پورے اوچتوی.

ماساً بابهامیه شحمتی اذنیه ـ شرح وقایه (۱/ ١٦٤) فتاوی قاضی خان (۱/ ٤١) درمختار (۱/ ٣٢٤).

۲۹ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه ارشاد دے چه په هر مونځ کوونکی باندے سورت فاتحه لوستل فرض دی، برابره خبره ده که یوائے مونځ کوی یا امام پسے، امام وی که مقتدی وی تولو دپاره دا حکم دے. دغه شان جهری مونځ وی که سری تولو کښې فاتحه لوستل فرض دی.

عن یزید بن شریك انه قال لعمر رضی الله عنه: أقرأ خلف الامام ؟ فقال له عمر: نعم، قال وان قرأتَ یا امیر المؤمنین ؟ یعنی جهرتَ؟ قال: نعم، وان قرأتُ ـ وقال: لا تجزئ صلاة لا یقرأ فیها بفاتحة الکتاب.

رواه ابن ابی شیبة ۱/۲۵۵ المحلی ۳/۲٤۳ والقرطبی ۱/۱۲۵.

ترجمه: یزید بن شریك نه روایت دے چه ده عمر فاروق رضی الله عنه ته عرض اوکړو: زه به امام پسے قرأت کووم؟ هغه وئیل: هاؤ! وئیل: اګرکه تاسو قرأت کوئ اے امیر المؤمنین! یعنی جهر کوئ! عمر فاروق اوفرمائیل: هاؤ! اګرکه زه قرأت کوم. بیائے اوفرمائیل: هغه مونځ مونځ نه دے چه په هغے کښے سورت فاتحه اونه لوستے شی.

ددے خلاف احناف وائی: چه دمقتدی دپاره سورت فاتحه لوستل مکروه تحریمی ده، دغه شان په دریم او څلورم رکعت کښے او دجنازے په مانځه کښے سورت فاتحه لوستل لازم نه دی.

فتح القدیر (۱/۲۹۷) درمختار (۱/۳٦٦) شرح وقایه (۱/۱۷۰، ۱۷۳) موطا امام محمد ص (۹۷).

۳۰ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه ارشاد دے چه د سورت فاتحے نه پس دوه یا زیات آیتونه لوستل واجب یعنے فرض دی.

ابن ابی شیبه او المغنی (۱/۷٦) کښے دی:

فقد کتب عمر الی شریح ان اقرأ فی الرکعتین بفاتحة الکتاب وسورة وقال: لا تجزئ صلاة لایقرأ فیها بفاتحة الکتاب وآیتین فصاعداً.

ددے خلاف احناف وائی چه سورت فاتحه نه پس سورت یا آیتونه لوستل فرض نه دی.

شرح وقایه (۱/۱٦۱، ۱۷۳) هدایه (۱/۱۰٤).

۳۱ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به چه کله په مانځه کښې دننه قرآن لوستلو نو په قرأت کښې به ئې تقدیم تاخیر کولو، مثلا اول رکعت کښې به ئې سورت یوسف لوستلو اودویم رکعت کښې به ئې سورت هود (چه دیوسف نه مخکښې دے) لوستلو.

صحیح بخاری (۱/۱۰۷)، فقه عمر رضی الله عنه ص (٤۳٤)

ددے په خلاف احناف دے کار ته مکروه وائی.

رد المحتار (۱/۳٦۷) فتح القدیر (۱/۲۹۹) مرافی الفلاح علی الطحطاوی ص (۲۸٦).

۳۲ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به درکوع کولو په وخت اوددے نه دسر اوچتولو په وخت رفع الیدین کولو.

المجموع (۳/۳٦۸) جزء رفع الیدین للبخاری، فتاوی الدین الخاص (٤/٦۲) مختصر الخلافیات للبیهقی (۱/۳۷٥) نصب الرایه (۱/٤۱٦) السنن الکبری للبیهقی (۲/٦۸، ۷۰) مسند الفاروق لابن کثیر ص (۱٦٥، ۱٦٦).

او احناف رفع الیدین نه منی. رد المحتار (۱/۳٤۰) وغیره.

۳۳ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به چه کله امامت کولو نو د (سمع الله لمن حمده) نه پس به ئے (ربنا لك الحمد) وئیله.

ابن ابی شیبه (۱/۳۸) وفقه عمر رضی الله عنه ص (٤٣٦).

ددے خلاف احناف وائی چه امام دپاره (ربنا لك الحمد) وئیل نشته دے.

هدایه (۱/۱۰٦) مسند امام اعظم (۱/۱٦٨).

۳٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به تشهد (التحیات لله) ته فرض وئیله، اوفرمائیل به ئے:

لاصلاة الا بتشهد.

یعنے: دالتحیات وئیلو نه بغیر مونځ نه کیږی.

ابن ابی شیبه ۱/۱۱۹، المحلی ۳/۲۷۰، فقه عمر ص (٤٣٧).

ددے په خلاف احناف تشهد ته فرض نه وائی.

هدایه (۱/۹۹) رد المحتار (۱/۳۱۳) (۱/۱٦٢) کبیری ص (۲۹٦) کنز (۱/۱۷۰).

۳٥ - د خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه دتشهد الفاظ جدا دی او د احنافو دتشهد الفاظ جدا دی.

المغنی ۱/٥۳۷، رد المحتار ۱/۳۱۳ شرح الوقایه ۱/۱۷۰.

۳٦ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به کله کله په مانځه کښے یو سلام ګرځولو.

مصنف عبد الرزاق (۲۲۳/۲) ابن ابی شیبه .

احناف ددے عمل خلاف کوی او یو سلام گرځول ناجائز گنړی .

هدایه (۱۱٤/۱) رد المحتار (۳۱٤/۱) شرح وقایه (۱۷۱/۱) .

۳۷ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به د مانځه په دریم او څلورم رکعت کښے سورت فاتحه لوستل لازم گڼړل .

المغنی ۵۷٦/۱، او ابن ابی شیبه کښے ددوئ روایت ذکر دے .

احناف ددوئ خلاف کوی او دا کار لازم نه گنړی، بلکه تر دے پورے وائی چه که زړه ئے غواړی فاتحه دے اولولی، اوکه زړه ئے غواړی سبحان الله دے اووائی، او که خوښه ئے شی نو په دواړو رکعتونو کښے دے دغسے (دفکرونو په تال زوړند) خاموش ولاړ وی .

شرح وقایه (۱٦٦/۱) هدایه (۱۱۱/۱) رد المحتار (۳٤۳/۱).

۳۸ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به چه کله وتر کولو نو په دوه سلامونو سره به ئے درے رکعته وتر کول، یعنے دوه رکعته کولو نه پس به ئے سلام اړولو او بیا به ئے یو رکعت جدا کولو .

المغنی (۱۵۰/۲) اور المجموع (۵۱۹/۳).

او احناف ددے عمل خلاف کوی، اودا قسم وتر نه منی . نو دا درسول الله ﷺ هم مخالفت دے او د خلیفه راشد عمر

فاروق رضی الله عنه هم مخالفت دے.

هدایه (١/١٤٤) شرح وقایه (١/١٩٩).

٣٩ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به نقض الوتر کولو، یعنے کله به ئے چه دماسخوتن په وخت یو رکعت وتر اوکړو او بیا به دتهجدو دپاره پاسیدلو نو همدغه وتر به ئے نفل جوړ کړل او بیا به ئے یو رکعت وتر ددے نه پس کول.

البیهقی (٣/٢٩) کنز العمال (٢١٨٧٠).

احناف دا کار جائز نه ګنړی. الفتح الربانی (٤/١٢٧).

٤٠ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به یو رکعت وتر کولو.

لکه البیهقی (٣/٢٩) الدین الخالص (٥/) کښے تفصیل دے.

دغه شان خلیفه راشد عثمان بن عفان رضی الله عنه او علی بن ابی طالب رضی الله عنه به یو رکعت وتر کولو.

احناف ددے ټولو خلفاء راشدینو ؓ خلاف کوی او یو رکعت وتر نه منی، بلکه دیته ناجائز وائی.

هدایه (١/١٤٤) طحاوی (١/١٩٦).

دے نه معلومه شوه چه احناف نه درسول الله ﷺ تابعدار دی، اونه دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم. بلکه دخپل خواهش تابعدار دی.

٤١ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دسَحر په

مانځه کښې قنوت لوستلو.

البيهقى (٢/ ٢١١) معانى الآثار عبد الرزاق (٣/ ١٢) المجموع (٣/ ٤٨٤) المغنى (٢/ ١٥٥).

احناف ددې خلاف کوی او د سَحر په مانځه کښې قنوت نه منی. هدايه (١/ ١٤٥) رد المحتار (١/ ٤٤٩).

٤٢ - خليفه راشد عمر فاروق رضى الله عنه به په دعائے قنوت کښې خپل دواړه لاسونه (ددعاء په شکل) سينې پورې اوچتول.

المغنى (٢/ ١٥٤) المجموع (٣/ ٤٨٧) وغيره.

احناف ددې خلاف کوی او بطور دعاء دواړه لاسونه سينې پورې اوچتول نه منی.

کنز (١/ ٢٦) احسن الفتاوى (٣/ ٤٨٩) وغيره.

٤٣ - خليفه راشد عمر فاروق رضى الله عنه به سجده سهوه دسلام نه مخکښې کوله.

وسجد قبل التسليم - عبد الرزاق (٢/ ١١٣) ابن ابى شيبه (١/ ٦٢) فقه عمر رضى الله عنه (٤٤٣).

احناف ددې خلاف کوی او وائى چه: هميشه دپاره سجده سهو دسلام نه پس ده.

هدايه (١/ ١٥٦) شرح وقايه (١/ ٣٨٩).

٤٤ - خليفه راشد عمر فاروق رضى الله عنه به اقتداء

دمفترض په متنفل پسے جائز ګنړله.

لکه: المحلی (٤/٢٣٥) کښې دی:

ان عاملاً لعمر بکسکر فعل ذلك فقال له عمر: قد احسنتَ.

احناف ددے خلاف کوی اودے کار ته ناجائز وائی.

هدایه (١/١٢٧) رد المحتار (١/٣٨٩).

٤٥ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل چه کله مسبوق راشی نو دامام سره به دده مونځ اول مونځ حسابیږی، لکه چه ارشاد فرمائی:

ما ادرکته مع الامام فاجعله اول صلاتك.

(ابن ابی شیبه: ١/١٠١) فقه عمر ص (٤٤٨).

احناف ددے په خلاف وائی چه دمسبوق مونځ امام سره آخر مونځ حسابیږی.

مرقات (٢/١٨٠) تقریر بخاری از زکریا صاحب (٣/٥٦) خلاصة الفتاوی (١/١٦٥) عالمګیری (١/٩١).

٤٦ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به د جُمعے دورځے غسل کول فرض ګنړل.

بخاری (١/١٣٢) مسلم.

احناف ددے خلاف کوی او وائی: دا مستحب دے.

مرقاة (٢/٩٢، ٩٣).

٤٧ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل

چه دجُمعې مونځ په هر ځائے کښې کيږی، کلے وی که بانډه، لکه فرمائی :

اَن جمعوا حيثما كنتم .

ابن ابی شیبه (۲/۱۰۱) الدين الخالص (۶/۱۴۱) المحلی (۳/۲۵۳) المغنی (۲/۳۳۱) المجموع (۴/۳۷۴) بيهقی فی المعرفة (۲/۴۶۷) وسنده صحيح كما قال الامام الالبانی رحمه الله.

احناف ددے سراسر خلاف کوی اودا نه منی .

هدايه (۱/۱۶۸) كنز (۱/) شرح وقايه (۱/۲۳۹) بحر الرائق (۲/۱۴۰) بدائع الصنائع (۱/۲۵۹) عالمگيری (۱/۱۴۵) .

۴۸ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائيل چه نفل مونځ يو ركعت هم كيدے شی او ددے نه زيات هم، او فرمائيل به ئے :

انما هو تطوع فمن شاء زاد ومن شاء نقص ـ مصنف عبد الرزاق (۴/۲۷۷) وسنن البيهقی (۳/۲۴) والمغنی (۲/۱۲۵).

احناف ددے خلاف کوی او يو ركعت نفل كولو ته ناجائز وائی .

شامی رد المحتار (۱/۴۷۸) عمدة الرعايه (۱/۲۰۹) .

۴۹ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به داخترونو په مونځونو كښې دولس (۱۲) تكبيرونه وئيل .

عبد الرزاق (۳/۲۹۲) ابن ابی شيبه المجموع (۵/۲۳) .

احناف ددے خلاف کوی او څلور تکبیرونه کوی، ددے نه زیات تکبیرونه نه منی.

البنایه شرح الهدایه ۳/۳٦۳ رد المحتار: ۱/۵۵۹، کبیری: ۵٦۹

۵۰ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به داستسقاء دمانځه دوه رکعته کول او په دے کښے به ئے قلب رداء (څادر التهه) کولو. کنز العمال (۲۳۵۳۸).

احناف ددے سراسر خلاف کوی او وائی:

قال ابو حنیفة: لیست فی الاسستقاء صلاة مسنونة.

یعنے: بیخی داستسقاء دمانځه منکر دی. او څادر التهه کول هم نه منی. کنز الدقائق (۱/۴۸).

او ظلم دپاسه ظلم دادے چه په تعصب مذهبی کښے دومره اندازه ډوب دی چه درسول الله ﷺ په صحابی ؓ مبارك باندے بهتان تړی اودده طرفته دخطائی نسبت کوی او وائی

ویحتمل انه اصلحه فظن الراوی انه قلب (حاشیه کنز (۱/۴۸).

۵۱ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په جنازه کښے دڅلورو (۴) تکبیراتو نه نیولے تر نهه (۹) تکبیرونو پورے کولو.

کتاب الجنائز للالبانی ص (۱۱۲).

احناف ددے خلیفه راشد ؓ دا عمل نه منی.

هدایه (۱/۱۸۰) رد المحتار (۱/۵۸٦).

۵۲ - دخليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه دا عادت وو چه په مطلق سفر کښې به ئې قصر کولو.

(فقه عمر رضی الله عنه ص (۳۸۹).

احناف دا نه منی بلکه ددے په خلاف وائی چه اته ثلويښت (٤٨) کلو ميټرو نه کم کښې قصر نشته.

عمدة القاری ۳/۵۳۱ بحر الرائق ۱/۱٤۰، رد المحتار ۱/۵۲۷

۵۳ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په سفر کښې داقامت (پاتے کيدو) موده درے ورځے خودله.

المغنی (۲/۲۸۸).

احناف ددے خلاف کوی او داقامت موده (۱۵) پنځلس ورځے خائی.

هدايه (۱/۱٤۹) رد المجتار (۱/۵۲۸) شرح وقابه (۱/۲۳٤).

۵٤ - دخلفاء راشدينو ابو بکر صديق، عمرفاروق او عثمان رضی الله تعالی عنهم دا مبارك عادت وو چه په سفر کښې به ئې د فرض نه مخکښې او روستو سنت پريخودل.

بخاری (۱/۱٤۹) مشکاة (۱/۱۱۸) عبد الرزاق (۲/۵۵۷).

احناف ددے ټولو خلفاء راشدينو ؓ خلاف کوی او وائی چه په سفر کښې به دغه سنتونه خامخا کوی.

عالمگيريه (۱/۱۳۹) رد المحتار (۱/۵۳۲).

۵۵ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په رمضان

کښې دمسافر دپاره روژه نیول جائز نه ګڼړل، او چابه چه نیوله نو هغه ته به ئې داعادې (دوباره نیولو) حکم فرمائیلو.

المحلی (٦/٢٥٦) المغنی (٣/١٤٩) نیل الاوطار (٤/٢٣٧).

احناف ددې خلاف کوی اودې ته جائز څه چه بهتر وائی.

رد المحتار (١/١١٨) کنز الدقائق (١/٦٩).

٥٦ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او علی رضی الله عنه په نیز دشکرسجده کول مستحب دی.

ابن ابی شیبه (٢/٣٠٨) اور صحیح بخاری (١/٦٣٦) فتاوی الدین الخالص تفصیلا (٥/١٣٠).

احناف ددې خلاف کوی اود شکر سجده نه منی.

مرقات (٣/٣٢٨).

وقال: نضر الله وجه ابی حنیفة (حیث انکر السجود للشکر) ملخصاً۔ او تنظیم الاشتات کښې (١/٤٩٠) دی چه د ابو حنیفه په نزد مکروه ده.

٥٧ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز سجده دتلاوت واجب نه ده بلکه مستحب ده۔

صحیح بخاری (١/١٤٧) کښې دی چه دوئ دجُمعې په خطبه کښې دتلاوت دسجدې آیت اولوستلو او سجده ئې اونه کړه او وې فرمائیل:

ان الله لم یفرض السجود.

یعنی الله تعالی سجده تلاوت واجب کړے نه ده ددے په خلاف احناف دیته واجب وائی.

هدایه (۱/۱٦۳) رد المحتار (۱/٤۹٥).

دغه شان دوئ د ټولو خلفاء راشدینو او باقی نورو ټولو صحابه کرامو مخالفت اوکړو، ځکه چه په دغه مجلس کښے خلیفه راشد عثمان او علی او نور صحابه - رضی الله تعالی عنهم - هم حاضر وو.

۵۸ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په سورت حج کښے دویمه سجده هم کوله.

بیهقی (۲/۳۱۷) الدین الخالص (٥/۱٥۰) تفصیلاً.

احناف ددے خلیفه راشد خلاف کوی اود سورت حج دویمه سجده نه منی.

هدایه (۱/۱٦۳) وغیره.

۵۹ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق، عمر فاروق، عثمان او علی رضی الله عنهم دے ټولو به دماشوم اولیونی په مال کښے زکوه فرض ګڼړلو. دغه شان دیتیم په مال کښے به ئے هم زکوه فرض ګڼړلو.

لکه: المحلی (٥/۱۷۷) المجموع (٥/۲۹۹) مصنف عبد الرزاق (٤/٦۸) موطا (۱/۲٥۱) کښے دی چه دا حضرات فرمائی:

اتجروا فی مال الیتیم لا تاکلها الزکوة۔ البیهقی ٦/۲، و ٤/۱۰۷

ترجمه : دیتیم په مال کښې تجارت کوئ، هسې نه چه زکوه ئې ختم نه کړی ۔

ددې برعکس احناف وائی چه دماشوم، لیونی او یتیم په مال کښې زکوه نشته دې. هدایه (١/١٨٥) .

نو دوئ د ټولو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم او ورسره درسول الله ﷺ هم مخالفت اوکړو.

٦٠ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به د نوی (٩٠) اوښانو په زکوه کښې دوه حِقې اخستلې، او کله به چه اوښان ددې نه زیات شو نو په هر څلویښتو کښې به ئې بنت لبون او په هر پنځوسو کښې به ئې حِقه اخستله.

ابن ابی شیبه عبد الرزاق ٤/٨، موطا : ١/٢٥٧، البیهقی ٤/٨٧.

ددې خلاف احناف وائی : ثم تستانف الفریضة. یعنې دسلو (١٠٠) اوښانو نه پس به دوباره دسره شروع کیږی.

هدایه (١/١٨٨) وغیره.

دصحیح بخاری دصحیح حدیث مخالفت ئې اوکړو کوم چه دنبی کریم ﷺ او ابو بکر صدیق رضی الله عنه نه روایت دې. دغه شان دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه مخالف ئې هم اوکړو. مشکوة (١/١٥٨).

٦١ – دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه دا رائې وه چه دوئ به د بقر (یعنې غواګانو) نه داوښانو پشان زکوه اخستلو.

مستدرك : ١/٣٩٤، المحلى ٦/٢ و ٤، الدارقطنی : ٢/٢١٠.

ددے خلاف احناف وائی چه د غوایانو او اوښانو په زکوه کښے فرق دے، دے وجے نه په (٣٠) دیرشو غواګانو کښے یو کلنے سخے دے. هدایه (١/١٨٩).

٦٢ - رسول الله ﷺ او خلفاء راشدین، ابو بکر، عمر او علی رضی الله عنهم به اسونو او غلامانو نه زکوه نه اخستلو.

مسند احمد (١/١٨) عبد الرزاق (٤/٣٥) الموطا (١/٢٧٧) المحلی ،المغنی (٢/٦٢٠) فقه عمر (٣٥٩).

احناف ددے خلاف کوی او وائی چه دا ځیزونه که دتجارت دپاره وی اوکه نه وی په دے کښے زکوه لازم دے. البته که غلام او اس د خدمت دپاره وی نو په دے کښے زکوه لازم نه دے.

هدایه (١/١٩١) بدائع (٢/٣٤).

نو دوئ د رسول الله ﷺ اود خلفاء راشدینو رضی الله عنهم ټولو مخالفت اوکړو.

٦٣ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او باقی ټول صحابه کرامؓ فرمائی چه عُشر به هله لازمیږی کله چه نصاب پوره شی او نصاب خمسه اوسق (پنځه وسق) دے.

ابو عبید کتاب الاموال (٤٨٠).

احناف ددے خلاف کوی او عشر دپاره نصاب نه منی.

هدایه (١/١٠١) وغیره.

٦٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل:

لیس فی الخضراوات صدقة .

(یعنے په سبزیانو کښے عشر نشته).

بیهقی (٤/٢٢٩) کتاب الاموال (١/٥٠١).

ددے خلاف احناف وائی چه په هر قسم سبزیانو کښے زکوه (عُشر) واجب دے.

هدایه (١/٢٠١).

نو دوئ دخلفاء راشدینو په خلاف فتویٰ ورکړه.

٦٥ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په زکوه کښے خرص او تخمین کولو یعنے تقریبی اندازه به ئے لګوله.

البیهقی ٤/١٢٤، المحلی، ٥/٢٥٩، ابن ابی شیبه الاموال ٤٨٧.

ددے خلاف احناف وائی چه دباغونو او فصلونو خرص او تخمین نشته بلکه باطل دے.

مرقاة (٤/١٥٥) تنظیم الاشتات (٢/٢٠).

٦٦ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په شاتو (ګبین) کښے عُشر نه اخستلو، مګر یو شرط سره او هغه دا چه حکومت د هغے حفاظت کوی.

مصنف عبد الرزاق (٤/٦٢) البیهقی (٤/١٣٦).

ددے خلاف احناف وائی چه په شاتو کښے زکوه مطلقا لازم

دے. هدایه (۱/۲۰۲).

٦٧ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دشاتو په زکوه کښے نصاب شرط ګنړلو او فرمائیل به ئے :

فی کل عشرة افراق فرقاً .

رواه عبد الرزاق (٦٣/٤) وهو فی المحلی (٥/٢٣٠).

ددے خلاف احناف وائی چه دشاتو په عُشر کښے نصاب نشته دے. هدایه (۱/۲۰۲).

٦٨ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دیو ښار نه بل ښار ته زکوه نقل کول ناجائز ګنړل.

کتاب الاموال (٥٩٩) اور فقه عمر (٣٦٤).

ددے په خلاف احناف صرف ددے دکراهت قائل دی، او بعضے صورتونو کښے خو دکراهت هم قائل نه دی.

هدایه (۱/۲۰۸).

٦٩ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل :

اذا اعطیتموا الزکوة فاغنوا .

یعنے : کله مو چه زکوه ورکولو نو مالداره کول کوئ

(رواه ابن ابی شیبه وعبد الرزاق (١٥١/٤) والبیهقی (٢٣/٧) الاموال (٥٦٥) والمحلی (١٥٥/٦) والله لاردن الصدقة حتی یروح علی احدهم مائة ناقة او مائة بعیر).

ددے خلاف احناف وائی چه فقیر ته به دومره روپۍ نه

ورکوی چه هغه مالدار او غني جوړ شي.

هدايه (١/٢٠٧) وغيره.

٧٠ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی چه دزکوه ساقطولو دپاره حيله کول جائز نه دی:

لا يفرق بين مجمتع ولا يجمتع بين متفرق خشية الصدقة.

موطا (١/٢٥٧) الاموال (٣٩٣).

احناف دده خلاف کوی او وائی چه دزکوه ساقطولو دپاره حيله (چل وَل) کول جائز دی.

عالمگيری (٦/٣٩١) وغيره.

٧١ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به صيام الدهر (هميشه مسلسل روژے نيول) مکروه گنړل، او چا به چه دا مسلسلے روژے نيولے نو هغه به ئے وهلو.

عبد الرزاق (٤/٢٩٨) ابن ابی شيبه المحلی (٤/٤٣٥).

احناف ددے خلاف کوی او وائی: صيام الدهر جائز دی.

مرقاة (٤/٢٩٠).

٧٢ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه نه صحيح روايت کښے نقل دی چه کله روژه دار دغروب الشمس نه مخکښے په هيره سره روژه ماته کړی نو په ده باندے قضاء نشته.

البيهقی (٤/٢١٧) عبد الرزاق (٤/١٧٩).

ددے خلاف احناف وائی چه په ده قضاء لازم ده.

هدایه (۱/۲۲۵).

۷۳ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به چه کله نفلی روژه ماته کړه نو ددے قضائی راوړل به ئے ضروری نه ګنړل.

المجموع (۶/۳۹۴) المحلی (۴/۴۱۸).

ددے خلاف احناف وائی چاچه نفلی روژه ماته کړه نو په ده باندے قضاء راوړل واجب دی.

هدایه (۱/۱۴۸) شرح وقایه (۱/۱۴۲) کنز (۱/۳۵).

۷۴ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دحج په احرام کښے اشتراط (شرط لګول) صحیح ګنړل.

ابن ابی شیبه المغنی (۳/۲۴۲) کښے دی:

ان حججت فاشترط.

احناف ددے خلاف کوی او اشتراط نه منی.

عینی :۵/۴۵، بذل المجهود : ۳/۹۷، تنظیم الاشتات ۲/۱۱۰.

۷۵ - دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز دکور نه احرام تړل بدعت دے (بلکه احرام به دمیقات نه تړی).

المغنی (۳/۲۶۵) ابن ابی شیبه البیهقی (۵/۳۱).

ددے خلاف حنفیه وائی چه افضله داده چه دکور نه احرام اوتړلے شی.

هدایه (۱/۲۳۵) کښې دی:

ان تحرم به من دویرة اهلك

دوئ د رسول الله ﷺ او ورسره د هغه د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم مخالفت کوی.

۷٦ – دخلیفه راشد عمر فاروق او عثمان رضی الله عنهما په نیز داحرام په حالت کښې نکاح کول باطل دی.

بیهقی ٦٦/٥، ۲۱۳/۷، المغنی، ۳۳۲/۳، المجموع ۲۹۰/۷ المحلی.

ددے خلاف حنفیه وائی: دا کار جائز دے.

عینی (۹۹/٥) طحاوی (٤٤١/١) تنظیم الاشتات (۱۰۱/۲).

۷۷ – خلیفه راشد عثمان بن عفان رضی الله عنه به په مِنیٰ کښې څلور رکعته مونځ کولو او هغه مسافر وو، او هغوئ پسے به صحابه کرام رضی الله عنهم ولاړ وو.

صحیح بخاری (۱۴۷/۱) مشکاة (۱۱۹/۱).

ددے خلاف احناف په سفر کښې څلور رکعته مونځ ته ناجائز وائی.

هدایه (۱٦٥/۱) وغیره.

۷۸ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه دواړو به حج تمتع نه کولو بلکه ددے نه به ئے منع فرمائیله.

صحیح بخاری (۱/۲۱۲، ۲۱۳) کښې د عمر رضی الله عنه او طحاوی (۱/۳۸٤) کښې د عثمان رضی الله عنه روایت دے.

احناف ددے خلفاء راشدینو ؓ خلاف کوی او وائی چه حج تمتع کول پکار دی.

هدایه (۱/۳٦۰) شرح وقایه (۱/۳٤۰).

نو حنفیه ولے ددے خلفاء راشدینو ؓ خلاف کوی؟

۷۹ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به خادمئ (سمسره) حلال ګنړله او د احرام په حالت کښې که چا اووژله نو په ده باندے به ئے ګډ ذبح کول لازم ګنړل.

ابن ابی شیبه المحلی ۲۲۱/۳ المجموع ٤۲۲/۷ المغنی ۵۱۱/۳.

احناف دا نه منی.

مرقاة (۱۳۱/۸) تنظیم الاشتات (۱۲۱/۳).

۸۰ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به ضبع (ګور ګټمئ) حلاله ګنړله او چا به چه د اِحرام په حالت ښکار کړله نو په هغه به ئے جزاء لازم ګنړله.

موطا (٤۱٤/۱) عبد الرزاق (٤۰۳/٤) البیهقی (۱۸۳/۵) المغنی (۵۱۰/۳) المحلی (۲۲۷/۲) فقه عمر (۲۵۲).

احناف ددے خلاف کوی او وائی چه ضبع حرام دے.

عرف الشذی (۲/٤۵۰) رد المحتار (۱۹٤/۵).

۸۱ - مِنیٰ کښې به رسول الله ﷺ او خلفاء راشدینو: ابو

بکر صدیق، عمر فاروق او عثمان رضی الله عنهم ټولو دوه رکعته فرض کول، برابره خبره ده که په مکه مکرمه کښې به لږے مودے دپاره پاتے کیدل او که ډیره مودے دپاره.

موطا (٤٠٢/١) صحیح بخاری (١٤٧/١) المغنی (٤٥٦/٣)

او همدا طریقه سنت ده برابره خبره ده که مسافر وی او که مقیم.

ددے خلاف احناف وائی: څوك چه په مکه کښې د پنځلس (١٥) ورځو پورے پاتے کیدو اراده لری نو هغه به په مِنیٰ، عرفات او مزدلفه کښې څلور رکعته فرض کوی.

هدایه (١٦٦/١).

نو دا درسول الله ﷺ اود ټولو خلفاء راشدینو اوباقی صحابه کرامو رضی الله عنهم صریح مخالفت دے.

٨٢ - د خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز په مِنیٰ کښې شپه تیرول واجب دی. هغه فرمائی:

لا یبیتن احد من الحاج وراء العقبة و کان یبعث رجالا یدخلون الناس من وراء العقبة.

الموطا (٤٠٣/١) البیهقی (١٥٣/٥) ابن ابی شیبه.

ددے خلاف احناف وائي چه دا واجب نه دی.

الفقه الاسلامی (٢١٢/١).

نو خلیفه راشدؓ یو څه وائی او حنفیه بل څه!

۸۳ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به زنانو دپاره دحج اجازت ورکولو، برابره خبره ده که دهغوئ سره محرم وی اوکه نه وی خو چه امن موجود وی. لکه چه دوئ درسول الله ﷺ ازواج مطهرات دعثمان رضی الله عنه سره حج دپاره لیګلے وے. (البیهقی: ٥/٢٢٨).

او احناف دا نه منی. هدایه (١/٢٣٣).

۸٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او نور خلفاء راشدین رضی الله عنهم به دحج دپاره اِشعار کولو، یعنی داوښانو قبونه به ئے لږ شان زخمی کول، لکه چه دا سنت عمل دے. المحلی (٧/١١١).

ددے برعکس احناف وائی: دا کار جائز نه دے.

هدایه (١/٢٦٢) کنز (١/٨٣) شرح وقایه (١/٣٤٣).

نودا خلق د رسول الله ﷺ اوخلفاء راشدینو ضی الله عنهم سنت عمل ته ناجائز وائی! دا څومره قبیح جرأت او عظیم ظلم دے؟

امام ابوحنیفهؒ په دے مسئله کښے معذور دے، لیکن مقلدین معذور نه دی.

کما حققه عبد الحی رحمه الله فی حاشیته علی الهدایة.

۸٥ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دکهجورو دپخوالی نه مخکښے ددے دخرڅولو نه منع فرمائیله.

المحلی (۹/۱۱٥) کښې دي :

نهى عمر - رضى الله عنه - عن بيع الثمر حتى يصلح.

ددې خلاف احناف وائي : دا کار جائز دے .

هدايه : ۳/ ۱۰، تنظيم الاشتات : ۲/۱۲۸، فتح القدير ٥/۱۰۲.

٨٦ - د ټولو خلفاء راشدينو رضى الله عنهم په نيز په مکه مکرمه کښې دکورونو اخستل خرڅول جائز دي .

صحيح بخارى (۱/۲۱٦) المجموع (۹/۲۷۹) .

ددې خلاف حنفيه وائي چه په مکه کښې کورونه خرڅول منع دي . عينى (۹/۲۲٥) .

٨٧ - خليفه راشد عمر فاروق رضى الله عنه به شرابو نه دسرکے جوړولو نه منع فرمائيله .

فقه عمر عمر رضى الله عنه ص : ۱۳۳ .

ددې برعکس حنفيه وائي : دا کار جائز دے .

هدايه (٤/٤٩٩) مرقاة (٦/١٩٢) .

٨٨ - د خليفه راشد عمر فاروق رضى الله عنه په نيز بناريان خلق بانډه چى دپاره خرڅول نشي کولے .

قال عمر - رضى الله عنه - : لا يبيع حاضر لباد .

عبد الرزاق (۸/۲۰۰) المحلى (۸/٤٥٤) .

ددې برعکس حنفيه دے کار ته جائز وائي .

هدايه (۳/٦٧) رد المحتار (٤/۱۳۲).

٨٩ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه دبیع الوفاء نه منع فرمائیلے ده.

لکه مصنف عبد الرزاق (٨/٥٦) فقه عمر رضی الله عنه ص (١٤٤) کښې دی:

عن ابن مسعود قال: ابتعت من امرأتی زینب جاریة فشرطت ان بعتها فهی لها بالثمن الذی ابتعتها به فذکرت ذلك لعمر، فقال: لا تقربها ولأحد فیها شرط - (المغنی: ٩٩/٤).

ددے خلاف حنفیه بیع الوفاء جائز ګنړی.

شامی ٤/١٢١، باب الرهن، البحر الرائق ٦/٨ تبیین الحقائق ١٨٣/٥.

٩٠ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه خیار مجلس جائز ګنړلو.

مغنی (٥٦٣/٣) المحلی (٣٥٣/٨) (١٤٤١)

ددے خلاف حنفیه خیار مجلس نه منی.

تقریر ترمذی د محمود الحسن دیوبندی ص (٣٦) جامع ترمذی باندے. هدایه ٣/٢٠ بدائع الصنائع ٥/١٣٤ بدایة المجتهد ٢/١٦٩.

٩١ - خلفاء راشدین: عمر فاروق، عثمان او علی رضی الله عنهم دے تولو حضراتو مزارعت، مساقات یعنی دهقانی جائز ګنړله او خپله به ئے هم کوله. دغه شان ددوئ آل او خاندان به هم کوله او جائز ګنړله.

(مشکوة خراج لابی یوسف ص ۱۰۷، صحیح بخاری).

ددے خلاف احناف وائی دهقانی جائز نه ده.

هدایه (۳/٤۲٤) مرقاة تنظیم الاشتات (۲/۱٤۸).

۹۲ - دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه دا رائے وه چه احیاء الموات (شاړه زمکه آبادول) دامیر داجازت نه بغیر هم جائز ده.

کتاب الاموال (۲۹۰) المغنی (٥/٥۱۱) المحلی (۸/۲۳٥) الموطا (۲/۷٤٤) البیهقی (٦/۲٤۸).

ددے برعکس احناف وائی: دامیر داجازت نه بغیر دا کار ناجائز دے۔ وقول الامام هو المختار.

البدائع ٦/۱۹٤ تبیین الحقائق ٦/۳٥ رد المحتار ۳/۲٥۹ ٥/۲۷۸.

۹۳ - د خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز په هر شئ کښے ذخیره اندوزی حرام ده۔

موطا (۲/٦٥۱).

ددے خلاف احناف وائی: دا جائز ده، لکه مرقات (٦/۹٥) کښے دی چه صرف په خوراکی موادو کښے حرام ده۔

۹٤ - دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز د میراث اسباب اووه (۷) دی:

(۱) الرحم (۲) الحمیل (۳) النکاح (٤) الولاء (٥) الید (٦) النصرة (۷) الجوار.

فقه عمر رضی الله عنه (٣٦/١) .

ددے خلاف احناف په دے مذکوره اسبابو کښے نصرت او جِوار نه منی ۔ سراجی ص (٣) .

نو دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم نه ئے خلاف اوکړو۔

٩٥ – دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز دمفقود (ورك شوی) شخص میراث او نکاح دڅلورو کلونو نه پس ماتیږی ۔

المحلی (١٣٦/١٠) .

ددے خلاف حنفیه وائی چه داتیا (٨٠) یا نوی (٩٠) یا سلو (١٠٠) کالو نه پس ماتیږی۔

کنز (٢٢٠/١) هدایه (٦٢٣/٢) فتح القدیر (٣٧٢/٥)

٩٦ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه اود باقی ټولو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم په نیز د میراث موانع درے دی

(١) اختلاف دین (٢) رق (٣) قتل .

فقه عمر بن خطاب رضی الله عنه (٣٨/١) .

ددے خلاف احناف وائی : درے نه دی بلکه څلور دی، یو په کښے اختلاف دار دے، لکه سراجی ص (٣) کښے دی۔

نو دوئ د تمامو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم خلاف اوکړو۔

٩٧ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی

چه کله به هغوئ یوے زنانه سره دنکاح اراده کوله نو دهغے پـنـډئ ته به ئے کتل ، لکه دوئ دام کلثوم بنت علی رضی الله عنهما پنډئ ته اوکتل۔

سلسلة الصحيحة ١/١٥٦ سنن سعيد بن منصور ٥٢١ ، ١/١٤٧

احناف دا نه منی بلکه وائی چه دمخ نه علاوه بل هيڅ يو ځائے ته کتلے نشی۔

عینی (٩/٤١٢) تنظیم الاشتات (٢/١٦٦) .

٩٨ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او علی بن ابی طالب رضی الله عنه به د ولی داجازت نه بغیر نکاح حرامه ګڼړله او فرمائیل به ئے :

(لا نكاح الا بولی) د ولی یعنے دپلار، ورور وغیره داجازت نه بغیر دښځے نکاح کول جائز نه دی، بلکه نکاح نه کیږی۔

بیهقی (٧/١١١) ابن ابی شیبه (٤/١٢٩) .

او همدا دابن مسعود رضی الله عنه هم ارشاد دے۔

القرطبی (٣/٧٢) الموطا (٢/٥٢٥).

ددے په خلاف احناف وائی : د ولی داجازت نه بغیر بالکل نکاح کول جائز دی۔

مرقاة ٦/٢٠٤ رد المحتار ٢/٢٩٦ هدايه ٢/٣٥ شرح الوقايه ٢/٢٠

نو دوئ درسول الله ﷺ مخالفت هم اوکړو، اود خلفاء راشدینو رضی الله عنهم مخالفت ئے هم اوکړو۔ او په دے کار

کښې ئې هم اجازت ورکړو چه جینۍ چاسره غواړی دوالدینو او اولیاؤ د اجازت نه بغیر نکاح کولې شی۔

پښتانه دے کار ته (متمیز توب) وائی ۔ نو آیا دولی نه بغیر د زنانه خپلے نکاح کولو ته جائز وئیل ، دے بے حیاء کار کښے اجازت ورکول نه دی ؟

۹۹ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به د نکاح الشغار (دبدل نکاح) باطله ګڼړله۔

المغنی (٦/٦٤١) .

ددے برعکس حنفیه وائی : دا کار جائز دے هرکله چه مهر مقرر شی۔

مرقاة (٦/٢١٢) هدایه وغیره.

۱۰۰ – خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به د زنانه دپاره دجماع (کوروالی) حق په هر څلورو ورځو کښے منلو ۔ چه په هر څلور ورځو کښے دښځے سره کوروالے کول دهغے حق دے ۔ اود مجاهدینو دپاره به ئے دڅلورو میاشتو نه پس کور ته واپس کیدل لازم ګڼړل ۔

مصنف عبد الرزاق (٧/١٥١) المغنی (٧/٣١) .

ددے خلاف احناف وائی : چه خاوند باندے په ټول عُمر کښے صرف یو ځل خپلے ښځے سره جماع (کوروالے) کول لازم دی، ددے یو ځل نه علاوه په باقی عمر کښے دښځے سره جماع

کول لازم نه دی۔

رد المحتار (۵۹۳/۲).

نو اوګوره! څنګه ئے دخلیفه راشدؓ نه خلاف اوکړو؟

آیا دا د ښځو حقوق غصب کول نه دی؟

۱۰۱ - دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز د مُکرَه (چاباندے چه زبردستی شوی وی دهغه) طلاق نه واقع کیږی۔

قال ثابت الاعرج : سألت عمر وابن الزبير عن طلاق المكره فقالا جميعاً : ليس بشئ - المحلى (۲۰۲/۱۰) (۳۳۱/۸) فقه عمر رضى الله عنه (۴۸۲).

ددے خلاف حنفیه وائی چه د مکرَه طلاق واقع کیږی۔

مرقاة ۲۸۸/٦ هدایه ۳۵۸/۲ فتاوی قاضی خان ۲۱۹/۲.

۱۰۲ - دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه او علی رضی الله عنه مذهب دا وو چه کله زنانه له یو یا دوه طلاقه ورکړے شی او هغه بل چا سره نکاح اوکړی او هغه بل خاوند ورله هم طلاق ورکړی او بیا واپس اولنی خاوند دا زنانه په نکاح واخلی نو دده یو طلاق یا دوه طلاقه باقی پاتے شول۔

بیهقی (۳٦٤/۸) ۔ او همدا د عام علماؤ قول هم دے۔

او حنفیه په دے کښے اختلاف لری۔

فقه اسلامی (۳۸۸/۷) نور الانوار (۲۳).

نو دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم خلاف ئے اوکړو۔

۱۰۳ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه نقل دی چه د نکاح نه مخکښې طلاق نشته دے، نه تعلیقا او نه تنجیزا، دغه شان د (کلما) طلاق هم نشته۔

عبد الرزاق (٤١٦/٦) شرح السنة (١٤٦/٥).

اود عمر رضی الله عنه نه چه په کوم روایت کښې جواز نقل کولے شی هغه روایت ثابت نه دے، لکه عبد الرزاق دا روایت د (یاسین الزیات) نه نقل کړے دے او هغه ضعیف دے۔

ددے خلاف حنفیه وائی : چه د (کلما طلاق واقع کیږی او معلق واقع کیږی اګرچه نکاح ئے لا کړے هم نه وی۔

هدایه (٣٨٥/٢).

۱۰٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دتحلیل نکاح کونکے رجم کولو۔

عبد الرزاق (٢٦٥/٦) المحلی (١٨١/١٠) بیهقی (٢٠٨/٧).

حنفیه ددے سراسر خلاف کوی او وائی : دا کار جائز دے، صرف مکروه قدرے دے۔ هدایه (٤٠٠/٢)

او په بعضے صورتونو کښې جائز څه چه مستحب هم دے.

حاشیه کنز (١٣٣/١).

۱۰۵ - خلیفه راشد عثمان رضی الله عنه به خلعے ته فسخ وئیله او دیته به ئے طلاق نه وئیلو۔

مصنف عبد الرزاق ، مجموع الفتاوى (٣٢٢/٣٢) .

ددے خلاف حنفیه وائی چه خلع طلاق دے ۔

نور الانوار ص (٢٣) هدایه (٤٠٤/٢) .

١٠٦ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په ایلاء باندے طلاق نه واقع کولو تردے چه ایلاء کونکی به څلور میاشتے پس پخپله، ښځے له طلاق ورکړو۔

اذا مضت اربعة اشهر لم يجعله شيئاً - ای عمر رضی الله عنه .

رواه الطبرانی (٤٨٩/٤) المغنی (٤١٨/٧) .

ددے خلاف حنفیه وائی چه څلور میاشتے تیریدلو نه پس په ایلاء سره طلاق بائن واقع کیږی۔ هدایه (٤٠١/٢) .

اوګورئ ! احنافو څنګه د خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه خلاف اوکړو !

١٠٧ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به کله د حانث کیدو نه مخکښے کفاره ورکوله، اوکله به ئے د حانث کیدو نه روسته کفاره ورکوله ۔ عبد الرزاق (٥١٥/٨) .

ددے خلاف حنفیه د حانث کیدو نه مخکښے کفاره ورکول ناجائز ګنړی، اوکه چا ورکړه نو دا کفاره کافی نه ګنړی، بلکه کفاره د حانث کیدو نه پس لازم ګنړی ۔

نور الانوار، هدایه (٤٧٨/٢) .

١٠٨ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه د هغه

مقلدينو سخت خلاف وو چاچه د الله دکتاب په مقابله کښې نور کتابونه ليکلي (لکه شامي، عالمګيري، هدايه وغيره) او د الله تعالی دکتاب نه ئې اعراض کړے وی۔ لکه ددے راتلونکی روايت کښې دسوچ او فکر نه معلوميږی۔

ان يهودية جائت الى عمر بن الخطاب رضی الله عنه فقالت : ان ابنی هلك فزعمت اليهود انه لاحق لی فی ميراثه فدعاهم عمر فقال : الا تطعون هذه حقها ؟ فقالوا : لا نجد لها حقاً فی كتابنا، فقال : افی التوراة ؟ قالوا : بل فی المثناة، قال : وما المثناة ؟ قالوا : كتاب كتبه أقوام علماء حكماء، فسبهم عمر وقال : اذهبوا فاعطوها حقها.

رواه ابن حزم فی المحلی (٩/٣٠٧).

ترجمه : يو يهودنړه دعمر رضی الله عنه خواته راغله او وے وئيل : زما ځوئے مړے شوے، اود يهوديانو دا خيال دے چه زما د ځوئے په مال کښې زما هيڅ حق نشته دے۔ نو خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه هغوئ راؤبلل او ورته ئې اوفرمائيل : تاسو دے زنانه له ولے خپل حق نه ورکوئ ؟ يهوديانو اووئيل : مونږ په خپل کتاب کښې ددے زنانه دپاره حق نه بيامو مو۔ عمر فاروق رضی الله عنه تپوس اوکړو : دکتاب نه مراد تورات دے ؟ يهوديانو اووئيل : نه ! بلکه دکتاب نه مراد مثنات (يعنے استثناء واله کتاب) دے۔ عمر رضی الله عنه تپوس اوکړو : مثنات څه شے دے ؟ يهوديانو اووئيل : مثنات هغه کتاب دے

کوم چه علماؤ او حکماؤ لیکلی دی ـ عمر فاروق رضی الله عنه دوئ ته ردی بدی اووئیلی، او ورته ئے حکم اوکړو چه لاړ شئ او دی زنانه له ددی خپل حق ورکړئ!

غور اوکړئ! په دی روایت کښی دادی چه یهودیانو دتورات په مقابله کښی په نورو کتابونو باندی عمل اوکړو او تورات ئے پریخودلو ـ نو عمر رضی الله عنه ددوئ نه تپوس اوکړو چه ستاسو کوم یو کتاب دی؟ هغوئ اووئیل: د مُلیانو کتاب ـ نو په دی باندی عمر رضی الله عنه دوئ ته ردی بدی اووئیلی ـ

دغه شان په بل روایت کښی دی چه خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه یو کس په دی وجه وهلی وو چه هغه خلقو ته د قرآن نه علاوه بل کتاب لوستلو ـ لکه نن صبا چه دقرآن په مقابله کښی خلقو فضائل اعمال وغیره کتابونه په ترخ کښی نیولی وی اود الله دکتاب نه اعراض کوی ـ عمر فاروق رضی الله عنه دغه کس ته اوفرمائیل:

انما هلك من كان قبلكم بانهم اقبلوا على كتب علمائهم واساقفتهم وتركوا التوراة والانجيل حتى درسا وذهب ما فيهما من العلم. رواه فی كنز العمال (١/٩٥) حياة الصحابة (٤/١٧٠).

ترجمه: تاسو نه مخکنی امتونه په دی وجه تباه شوی وو چه هغوئ د خپلو علماؤ او مشرانو کتابونو ته متوجه شول او تورات او انجیل ئے پریخودلو تردی چه ددی دواړو علم

ختم شو۔

وفی الحدیث الذی رواہ الطبرانی عن ابی موسی مرفوعاً : ان بنی اسرائیل کتبوا کتابا فاتبعوہ وترکوا التوراۃ ۔ کما فی المجمع (١/١٧٢) وصحیح الجامع (١/٤٠٩).

تبصره :

همدا حال د مقلدینو او تبلیغی جماعت والو دے چه دوئ هدایه، شامی، عالمگیری، فضائل اعمال وغیره کتابونه واخستل او قرآن او حدیث ئے پریخودل ۔ فتاویٰ دیوبند او احسن الفتاویٰ وغیره والو ته چه کله څه استفتاء راشی نو دوئ په جواب کښے صرف (یجوز) او (لا یجوز) لیکی او صرف په رد محتار او عالمگیری باندے حواله ورکوی ۔ ددلیل په کښے نام ونشان نه وی !

نو آیا دا دخلفاء راشدینو ؓ طریقه پریخودل نه دی ؟

١٠٩ -- خلفاء راشدین : ابو بکر، عمر، عثمان او علی رضی الله عنهم نه مقلدین وو، نه احناف، او نه نقشبندیان، نه قادریان ، نه سروردیان او نه چشتیان ۔ په دے بدعاتو کښے ملوث نه وو.

ددے خلفاء راشدینو ؓ خلاف احناف په دے بِدعتی سلسلو کښے کلك نښتی دی ۔

نو احنافو ته تپوس کول پکار دی چه تاسو ولے ددے خلفاء راشدینو رضی الله عنهم نه خلاف کوئ ؟ او په دے بدعاتو

کښې ولې ددين په نوم اونښتئ؟

بلکه دا خلق په عقيده، سلوك او عمل کښې سراسر دخلفاء راشدينو ؓ خلاف دی۔

۱۱۰ – خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په يو ګواه او يو قسَم باندے هم فيصله فرمائيله۔

لکه المحلی (۹/٤٠٣) او المغنی (۹/۱٥۱) کښې دی:

قضى بيمين وشاهد.

احناف ددے سراسر خلاف کوی او وائی چه دا کار غلط دے

مرقاة (۲٥۳۷) رد المحتار (٤/۳۳٠).

۱۱۱ – خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به د نسب متعلق قيافه دانی معتبره ګنڑله۔:

عبد الرزاق (۷/۳٦٠) بيهقی (۱٠/۲٦٤).

او احناف دا نه منی۔ مرقاة (٦/۳۱۷).

۱۱۲ – دخليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه دا عادت وو چه کله به غلام او وينځے زنا اوکړه نو په غير دبادشاه نه به ئے په هغوئ باندے حد جاری کولو۔ او په همدے طريقه باندے درسول الله ﷺ حکم هم دے۔

عبد الرزاق (۱٠/۲۳۹).

ددے خلاف احناف وائی چه دبادشاه نه بغير دا کار نشی کيدلے۔ مرقاة (۷/۱۳۸).

۱۱۳ - دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په دور کښې به چه کله غیر شادي شده شخص زنا اوکړه نوعمر فاروقؓ به ورته سل (۱۰۰) کوړې ورکولې او یو کال دپاره به ئې دواړه جلا وطن کول۔

غرب الی البصرة وغرب الی فدك وغرب الی خیبر وغرب الی غیرها– بیهقی (۸/۲۲۲) ابن ابی شیبه المحلی (۱۱/۱۸۳).

او په کوم روایت کښې چه: (لا اغرب مسلماً بعده ابداً) راغلی دی نو دا دشرابو په باره کښې دی، دزنا باره کښې نه دی۔

عبد الرزاق (۷/۳۱٤) المغنی (۸/۱٦۷).

نو د اصول الشاشی واله خبره غلطه ده۔

هدایه (۲/۵۱۲).

دغه شان تغریب الزانی په بخاری (۲/۱۰۱۰) کښې هم د عمر رضی الله عنه نه نقل دی۔

نو احنافو نه د رسول الله ﷺ په خبره عمل اوکړو اونه دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم په خبره، صرف دخپل خواهش پیروی کوی او یوشے ئې جوړ کړے هغې پسې روان دی، او امام ابو حنیفهؒ سره دپیغمبر پشان سلوك کوی، حالانکه هغه خو په امت کښې صرف یو مجتهد عالم دے، هغه هیڅ کله خپل تقلید ته دعوت نه دے ورکړے۔

۱۱٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دهغه

شخص شهادت او ګواهي قبلوله په چا باندې به چه حد قذف جاري کړې شوې وو، دغه شان دا د ټولو خلفاء راشدينو رضی الله عنهم طريقه هم وه.

صحيح بخاری ١/٣٦١، عبد الرزاق ٧/٣٨٤، المغنی ٨/٢٣٠.

ددې خلاف حنفيه وائي: چه قيامته پورې به ددې مسلمان بنده ګواهي نه قبليږي اګرچه توبه هم اوباسي.

هدايه (٣/١٦١) رد المحتار (٤/٣٧٩).

١١٥ - رسول الله ﷺ او ابو بکر او عمر رضی الله عنهما به په پنځه روپو غلا کولو باندې دغل نه لاس پريکولو.

بيهقی (٨/٣٦) القرطبی (٦/١١١) المغنی (٨/٢٤٢)

ددې خلاف حنفيه وائي: په لس (١٠) روپو غلا کولو باندې به دغل نه لاس پريکوی، نه په کمو.

هدايه، عالمگيری :٢/١٧٠، کنز: ١/١٧٧، رد المحتار ٣/١٩٢.

نودا د رسول الله ﷺ او خلفاء راشدينو رضی الله عنهم ټولو نه خلاف خبره ده.

١١٦ - خليفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه وقف ديو ځائې نه بل ځائې ته منتقل کول جائز ګنړل، لکه دوئ په کوفه کښې مسجد يو ځائې نه بل ځائې ته منتقل کړې وو، او ټول صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين دهغه سره په دې خبره باندې متفق شو.

الدين الخالص (٤٣٤/٣) المغنی (٥٧٦/٥) مجموع فتاوی ابن تیمیه رحمه الله (٢١٥/٣١) .

ددے خلاف حنفیه وائی چه دیو ځائے نه بل ځائے ته دمسجد انتقال بالکل نشته دے۔

رد المحتار (٣٧١/٣)۔

١١٧ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق، عمر فاروق رضی الله عنهما دا فتویٰ وه چه کوم شخص خپل اولاد ته په هبه کښے څه ورکوی نو په هغے کښے تسویه (برابری اوعدل) کول واجب او ضروری دی، اوکه تسویه ئے اونه کړه نو هبه باطله ده۔

ددے خلاف حنفیه وائی چه داولاد ترمینځه په هبه کښے تسویه اوعدل کول لازم نه دی، بلکه یو بچی له په نورو باندے ترجیح ورکولے شی۔ مرقاة (١٥٤/٦) .

نو دوئ په دے خبره کښے درسول الله ﷺ مخالفت هم اوکړو او دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم مخالفت هم۔ بعضے خلق دا دعویٰ کوی چه ابو بکر اوعمر رضی الله عنهما د بعضے اولاد تفضیل (ترجیح) کړیده ۔ خو دا روایت صحیح نه دے۔

١١٨ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل:

(یرتجع الرجل من ولده ما اعطاه مالم یمت او یستهلك او یقع فیه دین) البیهقی (١٧٩/٦) عبد الرزاق (١٢٩/٩) المحلی (١٣٥/٩).

یعنے : پلار دخپل ځوئے نه هغه مال اخستے شی کوم ئے چه ورته ورکړے وی، او همدا خبره په حدیث شریف کښے راغلے ده۔ مشکوٰة (۲٦۱/۱).

ددے برعکس حنفیه وائی چه پلار دخپل ځوئے نه خپل ورکړے مال واپس نشی اخستے ۔ مرقاة (١٥٥/٦).

۱۱۹ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل: (المرتهن أمین) یعنے : چاسره چه څه (مال، څیز) کښودلے شی نو دا امانت دے، یعنے مرتهن باندے دمرهونه څیز دهلاکت په صورت کښے ضمان نشته دے۔

بیهقی (٤٣/٦).

ددے برعکس حنفیه وائی : په مرتهن باندے ضمان شته دے۔ هدایه (٥١٧/٤).

۱۲۰ -خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به رکاز له دمال فیئ حکم ورکولو۔

فقه عمر رضی الله عنه ص (٣٤٧) المحلی (٣٢٦/٧) الاموال (٣٤٣) په دے کښے ددانیال علیه السلام واقعه ده۔

ددے خلاف حنفیه وائی : رکاز او معدن یو شے دے، او په دے کښے صرف خمس (پنځمه حصه) ده۔

عینی باب الزکوة هدایه (١٩٩/١).

۱۲۱ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به

درضاعت (ماشوم له دتی ورکولو) موده دوه (۲) کاله ښودله او فرمائیل به ئے :

لارضاع الا فی الحولین.

رواه البیهقی (٤٦١/٧) المغنی (٥٤٢/٧).

ددے خلاف حنفیه وائی : دوه نیم کاله ده ـ

هدایه (٣٥٠/٢).

۱۲۲ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به په لږ شان رضاعت (تی رودلو) باندے دحرمت حکم نه لګولو ـ

المحلی (١١/١٠) عبد الرزاق (٤٧١/٧).

ددے خلاف حنفیه که رضاعت لږ وی اوکه ډیر وی په دواړه باندے دحرمت حکم لګوی ـ هدایه (٣٥٠/٢).

۱۲۳ - دټولو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم دا فیصله وه چه په اهل ذمه کښے چه څوك الله تعالی یا رسول الله ﷺ ته کنځل اوکړی (والعیاذ بالله) نو دده ذمه ساقطه ده، دا د ټولو خلفاء راشدینو فیصله وه ـ

فقه عمر رضی الله عنه (٣٧٦) عبد الرزاق (١١٤/٦) البیهقی (٢٠١/٩) الشفاء (٢٢٥/٢).

ددے خلاف حنفیه وائی : په دے کار سره د اهل ذمه، ذمه نه ختمیږی ـ

کنز (٢١٢/٢) بحر الرائق (١٩٥/٥) وغیره.

داحنافو داخبره ددینی غیرت هم خلاف ده ! افسوس چه احنافو په الله اود هغه په رسول ﷺ باندے غیرت کړے وے!

۱۲٤ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل دی چه کوم شخص دشرابو نه سرکه جوړه کړه نودا سرکه حرامه ده۔

عبد الرزاق (٢٥٣/٩) اموال ابی عبید (١٠٤) المغنی (٣١٩/٨)

ددے خلاف حنفیه وائی : دشرابو نه جوړه شوے سرکه حلاله ده۔

مرقات (١٩٢/٧) هدایه (٤٩٩/٤) .

۱۲۵ - دخلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په نیز د چیندخ نه علاوه د سمندر ټول حیوانات حلال دی۔

مجموع (٣١/٩) بیهقی (٢٥٤/٩) طبری (١٢٦٨٧) فقه عمر رض

اوهمدا مذهب دابوبکر صدیق رضی الله عنه هم وو۔

صحیح بخاری (٨٢٥/٢).

ددے خلاف احناف وائی : دماهی نه علاوه سمندری ټول حیوانات حلال نه دی۔

هدایه (٤٤٢/٤).

۱۲٦ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به اضحیه (قربانی) مستحب ګڼله او فرمائیل به ئے :

(من شاء اضحی ومن شاء لم یضح) عبد الرزاق (٣٨١/٤) .

ددے خلاف حنفیه وائی : قربانی کول واجب دی ۔

هدایه (٤٤٣/٤) کنز .

۱۲۷ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به فرمائیل چه یو حیوان صرف دیو کس دپاره قربانی کیدے شی په دے کښے بل کس نه شی شریکیدے، برابره خبره ده که غوا او اوښ وی، اوکه ګډه بیزه یا ددے نه علاوه بل حیوان وی۔

لا تجزئ نفس واحدة عن سبعة. ذکره فی المغنی (٦٢٠/٨) .

ددے خلاف حنفیه وائی : په اوښ، غوا وغیره کښے اوو (۷) پورے خلق شریك کیدے شی۔

بدائع الصنائع ٧٠/٥ عالمگیری ٣٠٤/٥، رد المحتار ٢٠٠/٥)

۱۲۸ -خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به تعزیر بالمال ورکولو ۔

المحلی ٩/٩ اموال ابی عبید ٩٦، عبد الرزاق : ٧٧/٦، ٢٢٩/٩ .

او احناف وائی : تعزیر بالمال جائز نه دے ۔

بحر الرائق (٤١/٥) عمدة القاری (١٦٤/٥) البناية (٧٢٨/٣) احسن الفتاوی (٥٤٢/٥).

۱۲۹ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به دکافر په بدله کښے دمسلمان نه قصاص نه اخستلو، اګرچه ذمی کافر ولے نه وی۔

بیهقی (٣٢/٨) عبد الرزاق (٩٣/١٠) مرقاة (٥٧/٧).

ددے خلاف حنفیه وائی چه مسلمان به دکافر (ذمی) په مقابله کښې وژلے شی۔

هدایه، رد المحتار (٥/٣٤٣) مرقاة (٧/٥٧)۔

نو د دوئ دا خبره درسول الله ﷺ نه هم مخالف ده اود خلفاء راشدینو رضی الله عنهم نه هم مخالف ده۔

۱۳۰ - خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه په ولاړه هم تشے متیازے کړی دی۔

کنز العمال (٧٢٢٣) کښې دی:

قال زید بن وهب: رأیت عمر یبول قائماً، ففرج بین رجلیه حتی رحمته.

ددے خلاف احناف وائی: په ولاړه متیازے کول مکروه دی

عالمگیری (١/٥٠) بذل المجهود (١/١٧) درس ترمذی (١/١٩٩) وغیره.

۱۳۱ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق اوعام صحابه کرامو رضی الله عنهم به په طاعاتو (دینی کارونو) مثلا: آذان، امامت وغیره - باندے اجرت اومزدوری اخستل ناجائز ګڼل -

کانوا یکرهون تعلیم الصبیان بالارش ویعظمون ذلك ـ وقال ابن عمر: لایجوز اخذ الاجرة علی الاذان) المحلی (٣/١٤٦) (٨/١٩٥) فقه ابو بکر صدیق رضی الله عنه ص (٢٣).

ددے خلاف حنفیه وائی: چه په دینی اعمالو باندے اجرت

اخستل جائز دی۔

مجموعة الرسائل (١/١٢) لابن عابدين حنفی.

نو د دوئ نه تپوس کول پکار دی چه دلته دخلفاء راشدينو رضی الله عنهم تابعداری چرته لاړه ؟

دغه شان امام ابو حنيفهؒ هم داجرت اخستلو قائل نه دے نو دده تقليد چرته لاړو ؟

آيا چه پيسو دپاره مذهب لاړ نو خير دے ؟

۱۳۲ - درسول الله ﷺ او خليفه راشد ابو بكر اوعمر فاروق رضی الله عنهما په دور کښے به دجُمعے په ورځ يو آذان کيدلو۔

ابن ابی شيبه صحيح بخاری (١/١٢٤) .

او احناف دوه آذانه کوی، نو دوئ نه دا تپوس پکار دے چه ددے دواړو خلفاء راشدينوؓ ولے خلاف کوئ ؟

هدايه (١/١٧١).

۱۳۳ - خليفه راشد ابو بكر صديق رضی الله عنه به دمشرکانو قيديانو نه فديه نه اخستله بلکه هغه به ئے وژل

الاموال لابی عبيد ١٣٠ كنز العمال ٥٤٥/٤ خراج ابی يوسف ٢٣٤.

ددے خلاف احناف وائی : فديه ترے اخستل جائز دی۔

معارف القرآن (٢٤/٨).

١٣٤ - دخليفه راشد ابو بكر صديق رضی الله عنه په زمانه كښې به امهات الأولاد (ام ولده وينځې) اخستلې خرڅيدلې

عبد الرزاق (٣٨٧/١) المحلی (٢١٨/٩).

ددې خلاف حنفيه وائی : دا كار جائز نه دې ـ

مرقاة (١٦/٧) هدايه (٥٠/٣) رد المحتار (١٠٣/٤).

١٣٥ - د خليفه راشد ابو بكر صديق رضی الله عنه دا فيصله وه چه څوك رسول الله ﷺ ته كنځل اوكړی نو هغه به قتل كولې شی ـ

بيهقی (٢٠٤/٨) المغنی (١٢٣/٨).

ددې بر عكس حنفيه دا نه منی بلكه كه كنځلې كونكې ذمی كافر وی نو دده ذمه هم نه ماتيږی ـ

بحر الرائق (١٩٥/٥).

١٣٦ - خليفه راشد ابو بكر صديق او عمر فاروق رضی الله عنهما به دغل نه په دويم ځل باندې هم لاس پريكولو؛ اوكه دريم څلورم ځل به ئې غلا اوكړه نو دده نه به دواړه خپې هم پريكيدلې ـ اوكه پنځم ځل به ئې غلا اوكړه نو قتل كولې به شو ـ

كنز العمال : ٥٣٨/٥، فقه ابی بكر صديق رضی الله عنه ص ١٤٣.

ددې خلاف حنفيه وائی چه په څلورم ځل باندې خپه پريكيدل نشته اونه په پنځم ځل دده قتل شته ـ

هدایه (۵٤٧/٢) رد المحتار (٢٠٦/٣) .

۱۳۷ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق او بقیه خلفاء راشدین رضی الله عنهم به په سفر کښې سنت نه کول ـ

ابن ابی شیبه دارمی (۲٥٤/۱) **کښې دی :**

ان ابا بکر لا یصلی فی السفر قبل الفریضة ولا بعدها.

ددے خلاف حنفیه وائی : چه په سفر کښې به سنت کوی ـ

عالمگیری (۱۳۹/۱)رد المحتار (۵۳۲/۱).

۱۳۸ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه به دزنانه دپاره دخاوند گواهی صحیح گنړله ـ

لکه په المحلی (٤١٥/٦) **کښې ددوئ ارشاد گرامی دے :**

قال لعلی رضی الله عنه : لو شهد معك رجل آخر لقضیت لها بذلك - یعنی لفاطمة - رضی الله عنها.

ددے خلاف حنفیه وائی : چه دخاوند گواهی دښځے دپاره صحیح نه ده ـ هدایه (١٦١/٣).

۱۳۹ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما دواړو به هر مونځ په اول وخت کښې اداء کولو، دغه شان ابراد بالظهر به ئے کولو ـ

طرح التثریب (۱۵۲/۲) المغنی (۳۸۹/۱) ابن ابی شیبه .

بلکه دوئ د جُمعے مونځ دزوال نه مخکښې هم کړے دے ددے خلاف حنفیه وائی : چه دماښام دمانځه نه علاوه په

هر مونځ کښې تاخير بهتر دے۔

هدايه (١/ ٨٠) كنز (١/ ١٧) وغيره.

١٤٠ - خليفه راشد ابو بكر صديق رضى الله عنه نه نقل دى چه دوئ دجُمعے په ورځ دجُمعے مونځ د نصف النهار (زوال) نه مخکښې اداء کړو۔

عبد الرزاق (٣/ ١٧٥) المحلى (٥/ ٤٢) المجموع (٤/ ٣٨٢) المغنى (٢/ ٣٥٧)۔

ددے خلاف حنفيه وائى : چه دزوال نه مخکښې دجُمعے مونځ نه کيږى۔

هدايه (١/ ١٦٨) شرح وقايه باب الجمعه.

نو دا د خليفه راشدؓ صريح مخالفت دے۔

١٤١ - خليفه راشد ابو بكر صديق رضى الله عنه به په جانماز يا شادر باندے سجده كول ناجائز گڼړل۔

عبد الرزاق (١/ ٤٠٣) ابن ابى شيبه المجموع (٣/ ٢٣٩) عبد الرزاق (١/ ٣٩٧) كنز العمال (٨/ ١٢٧).

ددے خلاف حنفيه وائى : دا جائز دى۔

هدايه (١/ ١٤٢) رد المحتار (١/ ٢٣٤).

١٤٢ - خليفه راشد ابو بكر صديق رضى الله عنه به ركوع كولو او ركوع نه سر اوچتولو په وخت رفع اليدين كول (دواړه لاسونه به ئے اوچتول)۔

لکه کنز العمال (٨/٩٤) المجموع (٣/٣٦٨) کښې تفصيلا ذکر دی .

ددې برعکس احناف درفع اليدين دُشمنان دی ـ کله وائی دا منسوخ دی، کله وائی مکروه دی او کله وائی : دې سره مونځ فاسدیږی ـ

فتح القدير، مرعاة، کنز ١/١٢، رد المحتار ١/٣٤٠، هدايه ١/١١٠

آيا داد خلفاء راشدينو ؓ صريح مخالفت نه دې ؟ !!

١٤٣ – خليفه راشد ابو بکر صديق رضی الله عنه به کله کله دمانځه په آخر کښې يو طرفته سلام اړولو ـ

ابن ابی شيبه عبد الرزاق (٢/٢٢٣) .

احناف دا نه منی ـ

مرقاة، هدايه :١/١١٤، رد المحتار ١/٣١٤، شرح وقايه ١/١٧١

١٤٤ – خليفه راشد ابو بکر صديق رضی الله عنه به يو رکعت وِتر کولو ـ

المغنی (٢/١٥٠) ابن ابی شيبه الدين الخالص (٥/٥٤٤).

او حنفيه يو رکعت وتر ته ناجائز وائی ـ

هدايه (١/١٤٤) طحاوی (١/١٩٦) .

١٤٥ – خليفه راشد ابو بکر صديق رضی الله عنه به په مانځه کښې تربع (پرلتئ وهلو) سره کيناستلو، اوکله به ئے تکيه لګولو سره مونځ کولو ـ

ابن ابی شیبه فقه ابو بکر رضی الله عنه (١٦٧).

او حنفیه دا نه منی، الا من عذر ـ

هدایه (١/١٤٠) نور الایضاح ص (٧٥).

١٤٦ – خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه په مانځه کښې درکوع کولو نه پس صف ته اورسیدلو ـ

بیهقی (٢/٦٠) کنز العمال (٨/٢٩٥) الدین الخالص (٤/).

حنفیه دا نه منی ـ (عینی (٦/٥٥) ـ

١٤٧ – خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه به داختر په ورځ زنانه خامخا دمانځه دپاره ویستلے ـ

(حق علی کل ذات نطاق الخروج الی العید).

رواه ابن ابی شیبة کنز العمال (٨/٦٣٦) المغنی (٢/٣٧٥).

ددے برعکس حنفیه وائی : مونځ دپاره دزنانو ویستل نشته دے ـ هدایه (١/١٢٤).

١٤٨ – خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه به داختر په مانځه کښې دولس (١٢) تکبیرونه کول ـ

عبد الرزاق (٢/٨٥) المحلی (٥/٩٤) المغنی (٥/٢٣)

ددے خلاف حنفیه وائی : دولس تکبیرونه نشته بلکه شپږ تکبیرونه دی ـ

هدایه (١/١٧٣).

١٤٩ – دخلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه په نیز

پـه استسـقـاء (باران غوښتلو) کښې مونځ هم شته او داخترونو پشان په کښې تکبيرونه هم شته ـ

عبد الرزاق (٣/٨٥) (٢٩٢) المحلى (٥/٨٣) المغنى (٢/٤٣١).

حنفيه دابو بکر صديقؓ د اخبره نه منی ـ

هدايه (١/١٧٦) کنز وغيره.

١٥٠ - خـليـفـه راشـد ابو بکر صديق او عمر فاروق رضی الله عنهما دواړو به صلاه الضحیٰ (چاشت مونځ) نه کولو ـ

صحيح بخاری کتاب التهجد مشکوة ١/١١٨ کنز العمال ٨/٥٠ .

ددے دواړه حضـراتـو پـه خـلاف حـنـفيـه وائی : دا مونځ مستحب دے ـ

رد المحتار (١/٦٣٩) احسن الفتاوی (٣/٤٦٥).

١٥١ - خـليـفـه راشـد ابـو بـکـر صـديق رضی الله عنه دجنازے مونځ په مسجد کښې کولو ـ

کنز العمال (١٥/٧٠٩) فقه ابی بکر رضی الله عنه (١٧٢)ـ

ددے خلاف حنفيه : وائی دا کار صحيح نه دے ـ

مرقاة (٤/٤٨) البحر الرائق (٢/١٨٦).

١٥٢ - دعـرفـے پـه ورځ دحـج پـه موقع نه رسول الله ﷺ روژه ساتله اونه خلفاء راشدينو رضی الله عنهم ـ

عبد الرزاق (٤/٢٨٥) المحلى (٧/١٨) المجموع (٦/٤٣٨).

ددے خلاف حنفيه وائی چه دا جائز دی ـ

مرقاة (٤/٢٨٨) تنظيم الاشتات (٢/٤٨) رد المحتار (٢/٩١).

١٥٣ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه به هغه ماهی چه په اوبو کښې مړ شي حلال ګڼړلو -

السمك الطافی حلال . عبد الرزاق ٤/٥٠٣ .

ددے خلاف حنفیه وائی : دا مکروه دے -

مرقاة (٤/٤٤٢) هدایه (٤/١٤٢).

١٥٤ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه به د سمندر تمام حیوانات حلال ګڼړل او فرمائیل به ئے :

مافی البحر من شئ الا وقد ذکاه الله لکم - البیهقی (٩/٢٥٢) المجموع (٩/٣١) المحلی (٧/٢٩٧) المغنی (٨/٦٠٧).

ددے خلاف حنفیه وائی : دماهی نه علاوه دسمندر تمام حیوانات حلال نه دی -

هدایه (٤/٤٤٢) فتاوی قاضی خان (٤/٣٣٦).

١٥٥ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه به په یو ځل درے طلاقه یو شمارل -

فقه ابی بکر (١٨١) صحیح مسلم (١/٤٧٤) عبد الرزاق (٦/٣٩٢) ابوداود رقم (٣١٩٩).

ددے خلاف حنفیه وائی : دا درے شمارېږی -

هدایه (٢/٣٥٥) خلاصة الفتاوی (٢/٢٠٨) رد المحتار (٢/٤١٩) قاضی خان (٢/٢٠٨).

١٥٦ - دخليفه راشد ابو بكر صديق رضى الله عنه په نيز په مفصلاتو سورتونو كښې سجده دتلاوت نشته دے۔

المغنى (١/٦١٦) فقه ابى بكر (٢٠٠) .

ددے خلاف حنفيه وائى : په دے ځايونو كښې سجده تلاوت شته دے۔

هدايه (١/٦٣) شرح وقايه (١/٢٢٩) رد المحتار (١/٥١٣).

١٥٧ - خليفه راشد ابو بكر صديق، عمر فاروق او عثمان بن عفان تولو خلفاؤ راشدينو رضى الله عنهم به په يو ګواه او يو قسَم باندے فيصله كوله۔

بيهقى (١٠/٢٧٣) كنز العمال (٥/٨٢٥) .

حنفيه ددے سراسر خلاف كوى او وائى : دا فيصله غلط ده

مرقاة (٧/٢٥٣) رد المحتار (٤/٣٣٠) وغيره.

١٥٨ - خليفه راشد ابو بكر صديق رضى الله عنه به مزارعت (دهقانى) جائز ګنړله۔

المغنى (٥/٣٦٠) المحلى (٨/٣١٤).

ددے خلاف حنفيه وائى : دا جائز نه ده۔

هدايه (٤/٤٢٤).

١٥٩ - خليفه راشد ابو بكر او عمر فاروق رضى الله عنهما دواړه به دجنازے نه مخكښې مخكښې تلل۔

عبد الرزاق ٣/٤٤٥ موطا ١/٢٢٥ كنز العمال ١٥/٧٢١.

ددے خلاف حنفیه وائی چه روسته تلل افضل دی ۔
مرقاة (٥٧/٤) رد المحتار (٥٩٨/١).

١٦٠ - خلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه په پتهکی باندے مسح کړیده ۔
ابن ابی شیبه المحلی ٦٠/٢ كنز العمال ٤٦٤/٩ المغنی ٣٠٠/١.

ددے خلاف حنفیه وائی : په پتهکی باندے مسح جائز نه ده .
مرقاة (٨٠/٢) رد المحتار (١٨١/١) وغیره .

١٦١ - دخلیفه راشد ابو بکر صدیق رضی الله عنه فیصله دا وه چه کومه ښځه مرتده شی نو هغه دے قتل کړے شی .
بیهقی (٢٠٤/٨) المغنی (١٢٣/٨).

ددے خلاف حنفیه وائی : کله چه ښځه مرتده شی نو دابه نه شی قتلولے ۔
مرقاة ١٠٦/٧ بذل المجهود ١٢١/٥ تنظیم الاشتات ١٢/٣.

١٦٢ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه نقل دی چه دقربانئ څلور ورځے دی (یعنے اضحیه اوقربانی څلورو ورځو پورے کیږی)۔
المحلی (٢٧٦/٧) المجموع (٢٠٤/٨) المغنی (٦٣٨/٨) .

ددے خلاف حنفیه وائی : دقربانئ ورځے درے دی ۔
هدایه ٤٤٤/٤ روح المعانی ١٤٥/١٧ رد المحتار ٢٠١/٥.

۱٦۳ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه فرمائی:

لااعتکاف الا فی مصر جامع - رواه ابن ابی شیبة وابن حزم فی المحلی ١٦٤/٥، عبد الرزاق ١٦٧/٣ .

بل روایت کښې دی :

لا اعتكاف الا فی مسجد جماعة.

رواه عبد الرزاق (٣٤٦/٤) وابن حزم فی المحلی (١٩٤/٥)، وفی مسند زید (٨٨/٣).

یعنې : اعتکاف صرف په مصر جامع او جامع مسجد کښې صحیح دے، په هر مسجد کښې صحیح نه دے۔

ددے خلاف حنفیه وائی : په هر مسجد کښې اعتکاف صحیح دے۔

رد المحتار (٤٧٣/١) (١٢٩/٢).

۱٦٤ - خلیفه راشد عمر فاروق او علی بن ابی طالب رضی الله عنهما دواړو به داِکراه (زبردستئ) طلاق نه نافذولو.

المحلی ٣٣٢/٨ ، ٢١٢/١٠، فقه علی رضی الله عنه ١١٠ .

ددے خلاف حنفیه وائی : زبردستئ سره طلاق واقع کیږی

هدایه (٣٥٨/٢) مرقاة (٢٨٨/٦) قاضی خان (٢١٩/٢).

۱٦٥ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه فرمائی : چه ایلاء (قسَم) کونکے به دڅلورو میاشتو تیریدلو

نــه پس دقاضی مخامخ اودرولے شی او ده ته به وئیلے کیږی چه طلاق ورکړه یا رجوع اوکړه ۔

عبد الرزاق (٤٥٧/٦) المحلی (٤٧/١٠).

ددے خلاف احناف وائی : چه څلور میاشتے تیریدو نه پس خود بخود طلاق واقع کیږی ۔

هدایه (٤٠١/٢) ۔

١٦٦ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په ولاړه باندے تشے متیازے کړی دی ۔

ابن ابی شیبه فقه علی رضی الله عنه ص (١٣٢).

ددے برعکس احناف وائی : دا مکروه دی ۔

درس ترمذی ١٩٩/١ عالمگیری ٥٠/١ بذل المجهود ١٧/١ .

١٦٧ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به دخپل خلافت په دوران کښے تعزیر بالمال ورکولو ۔

لکه فقه علی رضی الله عنه ص (١٥٤) کښے دی چه دوئ دشرابو په خرڅولو باندے یو کلے سیزلے وو ۔ کنز العمال، جدید فقهی مسائل ۔

ددے خلاف احناف وائی : تعزیر بالمال جائز نه دے ۔

رد المحتار ١٨٤/٣ بحر الرائق ٢٠٨/٣ احسن الفتاوی (٥٤٢/٥).

١٦٨ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه فرمائی :

التیمم لکل صلوة . رواه البیهقی ۱/۲۲۱ کنز العمال ۲۷۵۵۳ .

یعنے : هر مانځه دپاره جدا جدا تیمم کول ضروری دی ـ په یو تیمم سره ډیر مونځونه نشی کولے ـ

ددے خلاف احناف وائی : چه په یو تیمم سره ډیر مونځونه کولے شی ـ

هدایه (۱/۴۹) شرح وقایه (۱/۱۰۳).

۱۶۹ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په تیمم کښے صرف دواړه ورغوو او مخ باندے مسح کوله، لکه چه په یو روایت کښے ددوئ نه دا هم نقل دی ـ

مصنف عبد الرزاق (۱/۲۱۳) اور البیهقی (۱/۲۱۲) .

ددے خلاف احناف وائی : څنګلو پورے مسح ده ـ

هدایه (۱/۴۹) شرح وقایه (۱/۱۷۶).

۱۷۰ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به فرمائیل :

لا یؤم المتیمم المتوضئین. رواه ابن حزم فی المحلی (۲/۱۴۳) کنز العمال (۲۷۵۵۸).

یعنے : که امام تیمم کړے وی او مقتدی اودس نو دا امامت درست نه دے ـ

ددے خلاف حنفیه وائی : دا امامت درست دے ـ

هدایه (۱/۱۲۱) شرح وقایه (۱/۱۷۶).

١٧١ - خليفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به دحج دپاره احرام تړلو په وخت اشتراط (شرط لګول) جائز ګڼړل

اللهم حجة ا ن تيسرت او عمرة، ان اراد عمرة ـ والا فلا حرج .

رواه ابن ابی شيبه وفی المحلی ٧/١١٣) ومسند زيد (٣/١٤٦).

ددے خلاف احناف په حج کښے اشتراط نه منی ـ

مرقاة (٦/٤) ومرعاة.

١٧٢ - دخليفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نيز محرم شخص نکاح نشی کولے، هغوئ به فرمائيل :

من تزوج وهو محرم نزعنا منه امرأته.

رواه ابن ابی شيبة المحلی (٧/١٩٩) سنن البيهقی (٥/٦٦).

حنفيه ددے خلاف وائی : چه دا حرام په حالت کښے که محرم نکاح اوکړی نودا جائز دی ـ مرقاة (٥/٣٨٠)ـ

١٧٣ - دخليفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نيز په هر هغه شخص باندے حج فرض دے چه هغه سره مال وی، اګرچه په هغه کښے بدنی استطاعت نه وی، ځکه هغه دے په خپلو پيسو باندے حج له نائب اوليږی ـ

الشيخ الفانی الذی لا يستطيع ان يحج يجهز رجلا علی نفقته فيحج عنه. رواه ابن ابی شيبة المحلی (٧/٦١) المجموع (٧/٨٠) المغنی (٣/٢٢٨).

ددے خلاف احناف وائی : چه دحج فرضيت دپاره مالی

اوبدنی طاقت دواړه شرط دی، او چاسره چه مال وی او بدنی
استطاعت نه وی نو په ده باندے حج فرض نه دے۔
مرقاة (٥/٢٦٧) هدایه (١/٢٣١) فقه اسلامی (٣/٢٥).

١٧٤ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به
په حجِ قِران کښے یو طواف او یوه سعی کوله۔
بیهقی (٥/١٠٨) کنز العمال (١٢٤٦٤)

او دطوافین لفظ چه بیهقی کښے دے نو دے نه مراد طواف
قدوم او طواف زیارت دے۔

دغه شان د رسول الله ﷺ حج هم په دے طریقه وو۔
صحیح بخاری وصحیح مسلم.

ددے خلاف حنفیه وائی چه په حجِ قِران کښے دوه طوافه او
دوه سعی کول ضروری دی۔
هدایه (١/٢٥٨) رد المحتار (٢/١٩٢).

١٧٥ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به
فرمائیل چه حدود کفارات دی۔ (یعنے چاباندے چه حد جاری
کړے شی نو هغه دګناه نه پاك شی)۔
کنز العمال (١٣٩٩٧).

ددے خلاف حنفیه وائی چه حدود کفارات نه دی۔
مرقاة (١/٥٠) عینی (١/٢١٣) تنظیم الاشتات (١/٥٨).

٧٦ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به

دحیض کمه موده یوه ورځ ښودله، دغه شان په یوه میاشت کښې درې حیضونه راتلل به ئې جائز ګڼړل۔

صحیح بخاری (٤٧/١) اور فقه علی رضی الله عنه.

ددې خلاف حنفیه وائی : چه دحیض کمه موده درې ورځې ده، او طهر متخلل پنځلس ورځې منی ۔

شرح وقایه ١/١٣٣ هدایه ٦٣، ٦٦ رد المحتار ٢/٦٤ کنز ١/١١٢.

١٧٧ – دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز درضاعت موده دوه کاله وه ۔

المغنی (٥٤٢/٧) کنز العمال (١٥٦٩٦) ابن کثیر (٢٨٣/١).

ددې خلاف حنفیه وائی : دوه نیم کاله ده ۔

هدایه (٣٥٠/٢)۔

١٧٨ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به دماشومانو دمال نه هم زکوه اخستلو ۔

کتاب الاموال (٤٥٠) البیهقی (١٠٧/٤) دغه شان دلیونی اود یتیم دمال نه به ئې هم زکوه اخستلو ۔

احناف ددې مخالفت کوی او وائی چه صرف دعاقل بالغ په مال کښې زکوه اخستل واجب دی ۔

هدایه (١٨٥/١) مرقاة (١٣٥/٤)

١٧٩ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه نقل دی چه په (٢٦) اوښانو کښې یو بنت مخاض دې، اوکه دا

موجود نه وی نو ابن لبون دے ۔

عبد الرزاق (٤/٥) المحلى (١٥/٦).

ددے خلاف احناف وائی : چه (۳۵) پورے بنت مخاض دے.

هدايه (١٨٨/١) ۔

۱۸۰ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په اسونو اوغلامانو کښے زکوه نه اخستلو ۔

عبد الرزاق (٦/٤) المحلى (٢٢٨/٥) المجموع (٣٠٧/٥)۔

ددے خلاف حنفیه وائی چه په دے دواړو کښے زکوه شته دے ۔ هدايه (١٩١/١) ۔

۱۸۱ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په سبزیانو کښے زکوه نه اخستلو، بلکه فرمائیل به ئے :

ليس فى الخضراوات صدقة۔

یعنے : په سبزیانو کښے عشر (زکوه) نشته ۔

البيهقى (١٣٠/٤) عبد الرزاق (١٢٠/٤) .

ددے خلاف حنفیه وائی چه په دے کښے عشر (زکوه) لازم دے ۔۔۔ هدايه (٢٠١/١).

۱۸۲ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به دعُشر نصاب شپږ سوه (٦٠٠) کلو منلو۔

مسند زيد بن على ٦٢٤/٢ فقه على رضى الله عنه ص ٣٠٥ .

ددے خلاف حنفیه وائی : چه دعشر نصاب نشته دے ۔

هدایه (١/٢٠٢)

١٨٣ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په شاتو کښې زکوه نه اخستلو ـ

بیهقی (١٢٨/٤)ـ

ددې خلاف حنفیه وائی : په دې کښې زکوه لازم دې ـ

هدایه (١/٢٠٢)ـ

١٨٤ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به فرمائیل : چه کوم شخص د (٥٠) روپو مالك وی هغه زکوه نشی اخستې، او غنی شخص به هم ده ته زکوه نه ورکوی ـ

المغنی (٦٦١/٢) المحلی (١٥٤/٦) مسند زید (٦٠١/٢).

ددې خلاف حنفیه وائی چه که فقیر د نصاب (یعنی د دوه سوه درهمو) مالك نه وی نو هغه زکوه اخستې شی ـ

هدایه (١/٢٠٤) وغیره ـ

١٨٥ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به د فطرانه (سرسایه) متعلق فرمائیل چه دا د کافر غلام دطرفه نشی اداء کیدلې ـ

المجموع (٢١١/٢) ـ

ددې خلاف حنفیه وائی : چه د کافر غلام دطرفنه هم سرسایه اداء کول ضروری دی ـ

مرقاة (١٦١/٤) هدایه (١/٢٠٨)ـ

١٨٦ - خليفه راشد علي بن ابي طالب رضی الله عنه به سلام گرځولو نه مخکښې سجده سهوه کوله ـ

مسند زید ٢/١٧٦ نیل الاوطار ٣/١١٨ المغنی ٢/٢٢ ابن ابی شیبه.

ددې خلاف حنفیه وائی : چه د سلام نه پس ده ـ

هدایه (١/١٥٦) شرح وقایه (١/٢٢٠) ـ

١٨٧ - خليفه راشد علي بن ابي طالب رضی الله عنه به سجده شکر منله اوکوله به ئے ـ

بیهقی (٢/٣٨١) عبد الرزاق (٣/٣٥٨).

ددې خلاف حنفیه وائی : سجده شکر نشته دے ـ

مرقاة (٣/٣٢٨) تنظیم الاشتات (١/٤٩٠).

١٨٨ - خليفه راشد علي بن ابي طالب رضی الله عنه به سجده دتلاوت سنت گنړله، دغه شان دسورئ دپاسه به ئے په اشارے سره کوله ـ

فقه علی رضی الله عنه ص :٣٢١، ابن ابی شیبه.م

ددې خلاف حنفیه وائی : دا واجب ده ـ

هدایه ١/١٦٣ شرح وقایه ١/٢٢٩ رد المحتار ١/٤٦٩ وغیره .

١٨٩ - دخليفه راشد علي بن ابي طالب رضی الله عنه په نیز څوك چه دگناه سفر کوی په هغے کښے قصر (دوه رکعته) نشی کولے ـ

المغنی (٢/٢٦١) ـ

ددے خلاف حنفیه وائی : چه دګناه په سفر کښے هم انسان قصر کولے شی ـ

هدایه (۱/۱٦٥) شرح وقایه (۱/۲۳٤)ـ

۱۹۰ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به د سفر موده لس (۱۰) ورځے حودله اوفرمائیل به ئے :

اذا اقمت عشراً فاتم ـ یعنے کله چه ته په یو ځائے کښے لس ورځے ایسار شے نو بیا به پوره مونځ کوے ـ

عبد الرزاق (۲/۵۳۲) المحلی (۵/۲۲) کنز العمال (۲۲۷۱۱).

ددے خلاف حنفیه وائی : چه داقامت موده پنځلس (۱۵) ورځے ده ـ

هدایه :۱/۱٦٥، او شرح وقایه :۱/۲۳٤، رد المحتار ۱/۵۲۸.

۱۹۱ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به وتر مونځ دسورلئ دپاسه په اشارے سره کولو ـ

عبد الرزاق (۲/۵۷۹) البیهقی (۲/٦) المحلی (۳/۵۳) ـ

ددے خلاف حنفیه وائی چه په سورلئ باندے وتر کول جائز نه دی ـ

مرقاة (۳/۲۲۳) عینی ، رد المحتار ـ

۱۹۲ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به تارك الصلاة (مونځ پریخودونکے) کافر ګنړلو او فرمائیل به ئے

من لم یصل فهو کافر ـ کنز العمال (۲۱٦٥٤).

ددے خلاف احناف وائی : کافر نه دے ۔

مرقاة ۲/۱۱۹، الفقه الاسلامی ۱/۵۵۳، رد المحتار ۱/۲۳۵۔

۱۹۳ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په مانځه کښے دواړه لاسونه دنامه دپاسه کیخودل ۔

لکه ابواود رقم (٧٤٣) کښے دی :

رأيت علياً يمسك شماله بيمينه على الرسغ فوق السرة .

كنز العمال (٢٢٩٥).

ددے خلاف احناف وائی : چه دواړه لاسونه به دنامه لاندے ګدی ۔

هدايه (١/١٠٢) رد المحتار (٣٢٠) قاضی خان (١/٤٢)۔

١٩٤ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په مانځه کښے رفع یدین کول ۔

المجموع (٣/٤٢٦)۔

ددے خلاف احناف وائی : په مانځه کښے رفع یدین نشته دے ---- هدايه (١/١١٠) رد المحتار (١/٣٤٠) ۔

١٩٥ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز آخره قعده فرض نه ده ۔

اذا رفعت رأسك من آخر صلاتك من السجود فقد تمت صلاتك۔ فان شئت فقم وان شئت فاقعد.

المحلى ٣/١٩٧ عبد الرزاق ٢/٢٤٧ كنز العمال ٢٢٣٦٩ .

ددے خلاف احناف وائی چه آخره قعده فرض ده اوسلام واجب دے۔

هدایه: ۱/۹۸، شرح وقایه: ۱/۱۶۱ رد المحتار ۱/۳۰۱، وغیره.

۱۹۶ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په مانځه کښے داسے تشهد وئیلو:

بسم الله وبالله وبالاسماء الحسنی کلها التحیات الطیبات والصلوات الزاکیات الطاهرات العادیات الرائحات الناعمات السابغات ماطاب فله، واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریك له وان محمداً عبده ورسوله.

کنز العمال (۲۲۳۵۸) البیهقی (۲/۱۴۳) المجموع (۳/۴۳۸)

ددے خلاف احناف وائی چه دابن مسعودؓ تشهد بهتر دے، او په دوئ کښے ځینے وائی چه دا تشهد واجب دے اود نورو صحابوؓ تشهد لوستل مکروه دی۔

هدایه (۱/۱۱۱) شرح وقایه (۱/۱۷۰) رد المحتار (۱/۳۴۲) التعلیق الممجد (۱/۱۱۰).

۱۹۷ – دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز وتر سنت دی، فرض او واجب نه دی۔

جامع ترمذی ۱/۱۰۳ عبد الرزاق ۲/۲۷۹ البیهقی ۱/۸، ۲/۴۶۸.

ددے خلاف احناف وائی: وتر واجب (یعنے عملی فرض) دی

هدایه (۱/۱۴۴) رد المحتار (۱/۴۴۶) کنز ۱۱/۳۴)۔

۱۹۸ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به نقض الوتر جائز ګڼرلو۔

کنز العمال (۳۱۸۹۹) المغنی (۳/۱۵۰) ابن ابی شیبه .

ددې خلاف احناف وائی چه نقض وتر جائز نه دی ۔

الفتح الربانی (۳۰۹/٤) وغیره ۔

۱۹۹ - دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز که یو مونځ بغیر دجماعت نه ځانله اداء کړې شی نو دجماعت له خاطر دا دوباره کولے شی، اوکه دمابنام مونځ ئے بغیر دجماعت نه یواځې کړې وی او بیا جماعت اودریدلو نو ددې سره به یو رکعت بل اوکړی دې دپاره چه څلور شی ۔

کنز العمال (٢٢٨٣٤) ابن ابی شیبه المغنی (١١٦/٢) .

ددې خلاف احناف وائی : چه دا کار نشی کیدې، صرف د ماسخوتن او ماسپخین په مونځونو کښې کیدې شی ۔

مرقاة (١٠٤/٣) هدایه (١٥٢/١) ۔

۲۰۰ - دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه دا فیصله وه چه دجُمعې په ورځ که چا دجُمعې دمانځه یو رکعت لاندې کړو نو دجُمعې مونځ به کوی، اوکه دیو رکعت نه کم ئے لاندې کړو مثلا التحیات وغیره کښې امام سره شریك شو نو ماسپخین (څلور رکعته) به کوی ۔

الاستذکار ٧٩/١ کشف الغمه ١٤٩/١ فقه علی ص ٤٠١ ۔

ددے خلاف احناف وائی چه که دجُمعے په ورځ امام سره التحیات کښې هم شریك شي نو دجُمعے مونځ (دوه رکعته) به کوی۔

هدایه :١/ ١٧٠، رد المحتار :١/ ٥٥٠ ۔

٢٠١ - دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز د جُمعے دمانځه نه مخکښې سنت نشته دے۔

فقه علی رضی الله عنه ص (٤٠٣) ۔

ددے خلاف احناف وائی چه د جُمعے دمانځه نه مخکښې څلور رکعته سنت دی۔

شامی (١/ ٦٣٠) البحر الرائق (٢/ ٤٩) بدائع (١/ ٢٨٥).

٢٠٢ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به داخترونو مونځ کښې دولس (١٢) تکبیرونه کول۔

مسند زید (٢/ ٢٢٦)۔

ددے خلاف احناف شپږ تکبیرونه کوی۔

هدایه ١/ ١٧٣ کبیری ص ٥٦٩، البنایه ٣/ ٣٦٣ شامی ١/ ٥٥٩.

٢٠٣ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به دکسوف (نمر تندر نیول) مونځ کښې په هر رکعت کښې پنځه رکوع ګانے کولے۔

لکه په (البیهقی ٣/ ٣٣٠) کښې دی۔

ددے خلاف احناف وائی چه دا صحیح نه دی۔

هدایه (١/١٥٧) رد المحتار (١/٥٦٥)۔

٢٠٤ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به دجُمعے په ورځ روژه نیول مکروه ګڼړل ۔

کتاب الام (١٨٩/٧) فقه علی رضی الله عنه ، عبد الرزاق (٢٨١/٤) البیهقی (٣٨٥/٤) ۔

ددے خلاف احناف وائی : دا مستحب دی ۔

والمندوب كيوم الجمعة ولو منفرداً .

درمختار (٨٣/٢) خلاصة الفتاوی (٢٦٥/١) مرقاة (٢٩٦/٤).

٢٠٥ - دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز ضبع (ګورګتئ) غوښه حلاله ده ۔

عبد الرزاق (٥١٣/٤) المحلی (٤٠٢/٧) المجموع (١٠/٩)۔

ددے خلاف ا حناف وائی : جائز نه ده ۔

در مختار (١٩٤) عرف الشذی (٤٥٠/٢)۔

٢٠٦ - دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز حرمتِ مصاهرت له هیڅ اعتبار نشته۔

صحیح بخاری ، محلی (١١٦/١٠)۔

ددے خلاف احناف وائی : دے له اعتبار شته دے او په دے سره حرمت ثابتوی ۔

هدایه (٢٨٩/٢) البحر الرائق (٩٨/٣، ١٠١) عالمگیری (٢٧٥/١) رد المحتار (٢٧٨/٢)۔

۲۰۷ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به عقیقه کوله ـ

کشف الغمة (۱/ ۲۳٤)ـ

دده خلاف احناف وائی : عقیقه سنت نه ده بلکه مباخ ده، اوددوئ په دویم قول کښې عقیقه بدعت دے ـ

وجعلها ابو حنیفة من امر الجاهلیة .

الفقه الاسلامی، المغنی ۱۱/۱۲۱ شامی ٤/ ۲۸۰ کتاب الآثار ۱۷۸

۲۰۸ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به فرمائیل چه سجده تلاوت په څلورو ځایونو کښې لازم ده : الم تنزیل، حم سجده، نجم او اقرأ کښې ـ ددے نه علاوه په نورو ځایونو کښې دانسان خوښه ده که سجده کوی اوکه نه ئے کوی .

مسند زید (۲/ ۳۷۵) فقه علی رضی الله عنه (۵۱۳)ـ

ددے خلاف احناف وائی : د سجده تلاوت په ټولو ځایونو کښې سجده کول واجب دی ـ

هدایه (۱/ ۱٦۳) شرح وقایه (۱/ ۲۲۹)ـ

۲۰۹ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په سورتِ حج کښې دوه سجدے کولے ـ

بیهقی (۲/ ۳۱۷) ـ

ددے خلاف احناف دلته یوه سجده کوی، دویمه سجده نه منی ـ ـ ـ هدایه (۱/ ۱٦۳) رد المحتار (۱/ ۵۱۳)ـ

۲۱۰ - خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به په قرعه اندازئ باندے فیصله فرمائیله ـ

بیهقی (۱۰/۲٦٧) ـ

ددے خلاف احناف وائی چه دا قمار او جواری ده ـ

فقه اسلامی (۲/۸۲۸) شرح السنة (٥/٢٥٩) بذل المجهود (٤/١٠٣) تنظیم الاشتات (۲/۲۲۰) مرقاة.

۲۱۱ - دخلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز مستعملے اوبه پاکے دی بلکه پاکوونکی هم دی (یعنے طاهر او مطهر دواړه دی)ـ

المحلی (۱/۱۹) المجموع (۱/۲۰۷) ـ

ددے خلاف احناف وائی چه یا خو نجس دی، یا طاهر غیر مطهر دی ـ

شرح وقایه (۱/۸۹) هدایه (۱/۳۹)ـ

۲۱۲ - د خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز د سپی او خنزیر نه علاوه د هر حیوان جوټه پاکه ده ـ

المجموع (۱/۲۲۷) المغنی (۱/۱۰)ـ

ددے خلاف احناف وائی چه دتمامو درنده ګانو حیواناتو جوټه نجس ده ـ

شرح وقایه (۱/۹۲) رد المحتار (١٤٨)ـ

۲۱۳ - د ټول خلفاء راشدین خصوصا علی بن ابی طالب

رضی الله عنهم په نیز مزارعت (دهقانی) جائز ده ۔
المحلی (۸/۲۱٤) المغنی (٥/۲۸٤)۔
ددے خلاف احناف وائی دهقانی جائز نه ده ۔
هدایه (۳/٤۲٤)۔

۲۱٤ – خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه به محراب جوړولو ته بدعت وئیلو ۔
المحلی (٤/۲۳۹) فقه علی رضی الله عنه ص (٥٥۷)۔
ددے خلاف احناف دا جائز گنړی اوجوړوی ئے هم ۔
رد المحتار (۱/۲۳٤) .

۲۱٥ – د خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز په نکاح کښے ولی شرط دے، بغیر دولی نه دجینئ نکاح نه کیږی ۔ البیهقی (۷/۱۱۱) ۔
ددے خلاف احناف وائی چه دولی نه بغیر هم پیغله جینئ په خپل طبیعت چاسره نکاح کولے شی ۔
هدایه (۲/۳۳٥) مرقاة (٦/۲۰٤) ردالمحتار (۲/۲۹٦) ۔

۲۱٦ – د خلیفه راشد علی بن ابی طالب رضی الله عنه په نیز په جورابو باندے مسح کول جائز دی ۔
المجموع (۱/٥٤۰) المغنی (۱/۲۹٥) ۔
ددے خلاف احناف وائی چه جورابو باندے په اودس کښے مسح کول جائز نه دی ۔

هدایه (۱/۶۱) شرح وقایه (۱/۱۱۱) کنز (۱/۱۲)۔

۲۱۷ – دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم مذهب داوو چه د مازیگر مانځه نه پس دوه رکعت نفل کول جائز دی ۔

کما فی المحلی (۲/۴۱) وفتاوی الدین الخالص (۳/۱۸۴) ۔

ددې برعکس احناف ددې نه انکار کوی ۔

مرقاة (۳/۴۶)۔

ددې نه علاوه هم بې شماره په سوونو مثالونه دی چه په هغې کښې احنافو دخلفائې راشدینو رضی الله عنهم مخالفت کړیدې ۔

په دې باندې زه اکتفاء کووم اود قلم حرکت اودروم، دې دپاره چه تطویل رانشی، ولې چه دمختصرې رسالې مطالعه آسانه وی ۔

* * * * * *

فوائد

۱ - فائده :

دا مختصره رسالہ مشت نمونه خروار پطور لیکلے شویده، که څوك تفصیل غواړی نو اول دے فقه حنفی اولولی او بیا دے دخلفاء راشدین رضی الله عنهم اقوال مطالعه کړی . لا تعداد مثالونه به ستاسو مخے ته راشی .دا یو څو مثالونه په جلتئ سره جمع کړے شو، دے دپاره چه دا هل حق دپاره دبصیرت سبب شی اود اهل تقلید دپاره د هدایت ذریعه شی . ان شاء الله .

۲ - فائده : مقلدینو د عامو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم ډیر مخالفت کړیدے، ددے په زرونو مثالونه دی . چه دا تاسو ته په مصنف عبد الرزاق، مصنف ابن ابی شیبه او المحلی لابن حزم کنبے ملاویدے شی . ددے کتابونو دمطالعے نه به معلومه شی چه مقلدینو دڅومره صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم مخالفت کړیدے .

دا څو صرف دڅلورو صحابه کرامو (خلفاء راشدینو رضی الله عنهم) دمخالفت مثالونه وو، چه ددوئ نه مقلدینو مخالفت کړیدے .

۳ - فائده : که چرے دمقلدینو مقصد قرآن او حدیث یا

دصحابه کرامو اتباع وی، نو بیا دی حضراتو به دصحابه کرامو رضی الله عنهم دصحیح احادیثو او اقوالو تاویلونه او جوابات نه کولی ـ او په مختلفو حنفي مسائلو کښې به ئې ضعیف اوموضوعي روایاتو له ترجیح نه ورکولی ـ

د مقلدینو بې شماره کتابونه دي چه په هغې کښې ئې د ضعیف او موضوعي (دځانه جوړ شوو) احادیثو د تصحیح کوشش کړي دی او په صحیح احادیثو کښې ئې تاویلونه کړیدي ـ چه مشهور کتابونه دادي :

اعلاء السنن، آثار السنن، معارف السنن، خزاء السنن، هدایه، بذل المجهود، تنظیم الأشتات وغیره ـ

ددې نه علاوه نور هم واړه غټ کتابونه دي چه د مذهب په نوم ئې په صحیح احادیثو اود هغې په راویانو باندې بې ځایه حمله کړیده ـ

په دې ناجائز کار کښې ددوئ غرض صرف او صرف داامام ابو حنیفه مذهب مضبوطول او بیا دهغې ړوند تقلید کول دي ـ اصل خبره داده چه تقلید یو داسې منحوس شې دې چه انسان دکتاب او سنت اود صحابه کرامو رضی الله عنهم دارشاداتو نه محروموي، اود امت دیو عالم په وینا باندې – دهغې دصحت او خطاء معلومولو نه بغیر – انسان راپاروي ـ

٤ – فائده :

مقلدين، د اهل حديثو (بارك الله فيهم) پورې دا تهمت لګوي چه معاذ الله اهل حديث دخلفاء راشدينو رضي الله عنهم مخالفت کوي ـ نو د دوئ دا خبره سراسر دروغ او بهتان دے ـ

مونږ، الحمد لله دقرآن او سنت او صحابه کرامو پيروي کوو، اود صحابه کرامو نهايت احترام کوو، دوئ داسلامي دين او مقدس شريعت امامان ګنړو، دخلفاء راشدينو رضي الله عنهم عمل سنت ګنړو ـ اوکه چرے ددوئ يوه اجتهادي مسئله دنص موافق نه وي نو ددوئ د احترام سره سره د نص اتباع کوو، او دوئ دپاره دعاء غواړو، او ددوئ دا اجتهاد موجب د يو ثواب عند الله ګنړو ـ

مقلدين دخپلے دے افتراء مثال شل (٢٠) رکعته تراويح، آذان عثماني رضي الله عنه او طلاقه ثلاثه ورکوي ـ

نو ددے مذکوره مسائلو مختصر جواب دادے چه شل رکعته تراويح خو اول د خليفه راشد عمر فاروق رضي الله عنه نه په صحيح سند سره ثابت نه دي .

تفصيل دپاره فتاوی الدين الخالص: ٥/٤٠٥، اوګوره ـ

او که چرے ثابت شي نو مونږ هم دا نفل ګنړو، او په نفلو کښے زيادت او نقصان جائز دے ـ لګ کوے که ډير ـ

دغه شان آذان عثماني رضي الله عنه دضرورت په وجه

جاری شوے وو، کـه اوس هم ضرورت پیدا شی نو اوس به هم مشروع وی ۔

دغـه شان طـلاق ثـلاثـه نـافـذول دخلیـفه راشد عمر فاروق رضـی الـله عنه سیاسی فیصله وه، که اوس هم اسلام خلافت او حـکـومت راشی او خلق دطلاقو په باره کښے زیاتے او کثرت شروع کـړی، نو همدا عمری فیصله به نافذولے شی ۔(تفصیل دپاره دفـقـه حنفی معروف کتاب، جامع الرموز کتاب الطلاق او حاشیه طحاوی : ۱۱۵/۲) اوګوره ۔

لیکن احناف چه دطلاق ثلاثه نافذولو نه پس کومه حلاله کـوی، دا نـاجائز او غیر مشروع عمل دے ۔ ځکه د خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه ارشاد ګرامی دے :

واللّٰه لا اوتی بمحلل ولا محلل له الا رجمتهما .

الـمحلی ۱۸۱/۱۰ بیهقی ۲۰۸/۷ مصنف عبد الرزاق ۲۶۵/۶ سنن سعید بن منصور ۴۹/۲، ۵۰ .

تـرجـمـه : قسـم په الله ! که ماته حلاله کونکے او هغه کس چـه هـغـه دپاره حلاله کولے شی راوستے شی نو زه به خامخا دواړه رجم او سنګسار کړم ۔

نـو احـنـاف حـضـراتـو لـه لـګ سوچ پکار دے چـه ولے دوئ دعـمـر فـاروق رضـی الـلـه عـنـه دفـیـصلے نیمائی جزء منی او نیمـائـی جزءئے نه منی ۔ دوئ حلالے ته جائز وائی او کوی ئے

هم ۔ حال دا چه عمر فاروق رضی الله عنه په حلاله کونکی باندے درجم فیصله کوی !! لږ سوچ پکار دے !!

الغرض :

الحمد لله زمونږ د اهل حدیثو مسائل د قرآن، حدیث اود صحابه کرامو رضی الله عنهم داقوالو موافق دی ۔ مقلدین حضراتو له پکار دی چه بے ځایه تهمتونه په طائفه منصوره باندے نه لګوی ۔ دالله نه ویره پکار ده، د قیامت په ورځ دالله مخے ته پیشی ده دهغے استحضار پکار دے، حق ته حق او باطل ته باطل وئیل پکار دی ۔

وبالله تعالى التوفيق .
وصلى الله وسلم على النبى الأمى
وآله وصحبه واتباعه وسلم الى يوم الدين .

حرره : ابو محمد امين الله البشاورى .
يوم الاحد : ذى القعدة ٢٩/١٤٢٥هجريه.

* * * * * *



مکتبہ محمدیہ

بیرون گنج گیٹ منگل مارکیٹ پیښور
Mob: 0301-8828402